دوهم چاپ



کرن خان

# مینه او مننه

شعري ټولګه

# مینه او مننه

شاعر: کرن خان


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | مینه او مننه |
| شاعر: | کرن خان |
| سرپاڼه: | منتظر خان |
| کمپوز: | رحمت دیوان |
| چاپ کال: | ۱۳۹۸هـ،ش 2020م |
| چاپ شمېر: | 1100 ټوکه |
| کره کتنه او د چاپ چارې: | محمد ګل منصور |
| بیه: | 200 کالدارې 100 افغانۍ |
| د رابطې نمبر: | 03454437447 |



**د چاپ حقوق د کرن خان سره خوندي دي**



**د موندو درکونه:**

**شهباز کتابپلورنځی؛ جلال آباد 0776920008/0787868816**

**ثاقب پبلشر فقیر بُک ایجنسي؛ رحمت مارکیټ، عقب قصه خوانی،**

**پېښور 03005955767/03469745863**

روغانیوال کتابپلورنځی؛ جلال آباد **0787830302**

پښتو اکیډمي بک شاپ؛ پېښور یونیورسټي **03120094940**

یونیورسټي بک ایجنسي؛ خېبر بازار پېښور

رشید بک سیلر؛ مردان **03137810310**/ نظام بک ډپو؛ منډه بازار**03018300014**

شعیب سنز پبلشرز اینډ بک سیلرز

سوات مارکیټ، جي ټي روډ مینګوره، سوات ټیلي فون: **0946-722517**

عباس بک سیلر؛ کبل سوات



Official Email: Pukhtoonkaran@gmail.com
Facebook Page: @KaranKhanMusicStudios
Instagram: @Karankhan3373
Twitter: @Karanpukhtoon
TIkTok: @Karankhan3373
YouTube:
https://www.youtube.com/channel/UC6xYbUewbSsjezZRVdlAA

# تړون

د فخر افغان خان عبدالغفار خان ( باچاخان بابا ) په نوم

**ما په دې خوار ژوندون کې دغه یو مقام ټاکلی**
**ځان نه غریب ته ښه او ښه ته هډو ګورمه نه**

## مننه

د نړۍ د هرې مور او پلار، بیا د خپلې ببو او داجي د خپلو ورونو، خویندو، کورنۍ، استادانو، ملګرو، دوستانو، ټولګیوالو، مینه والو، مئینانو، خبریالانو، هنري او ادبي ملګرو، پوهانو ملګرو او د ټولو پښتنو سره سره د دې کتاب لوستونکیو نه

کرن

# ډالۍ

د هنر باچا هارون باچا جي، ګران ورور ډاکټر محمد اسرار اتل، مشر ورور سلیم صافي او ورسره تمام انسانیت ته

کرن

D102308

100 Rupees

۱۰۰ روپیہ

## ﴿بیان حلفی﴾

منکہ کرن خان ولد مهابت خان ساکن پشاور صدر کا ہوں' بقائمی درست وہوش وحواص یہ اقرار کر کے لکھ دیتا ہوں کہ من حالف نے ایک کتاب بنام ''مینہ او مننہ'' تحریر کی ہے اور اسے شائع بھی کرایا ہے' اس کتاب کے تمام کاپی رائٹ حقوق من حالف کے پاس محفوظ ہیں جو کہ اس کا واحد و کامل اختیار دہندہ ہے تاہم کسی کو بھی اجازت نہ ہوگی کہ وہ کاپی رائٹ حقوق کی خلاف ورزی کرتے ہوئے کتاب کے کسی بھی حصے یا نام کو غیر قانونی طور پر استعمال کرے یا من حالف کی اجازت کے بغیر کتاب مذکورہ بالا کا کوئی بھی حصہ یا نام شائع کرے بصورت دیگر من حالف / لکھاری / مصنف شخص مذکورہ کیخلاف کاپی رائٹ ایکٹ کے تحت کارروائی کرنے کا قانونی طور پر مجاز وحقدار ہوگا۔

لہٰذا چند سطور مذکورہ بالا بحق کاپی رائٹ حقوق کتاب ''مینہ او مننہ'' تحریر کردیں تاکہ سند رہیں اور بوقت ضرورت کام آویں۔

المرقوم 21/01/2020

**العبد**

کرن خان ولد مهابت خان

شناختی کارڈ نمبر 15602-0525735-3

محمد عابد تنگی ایڈووکیٹ
0345-9122902

بابر خان ایڈووکیٹ
0313-9467950



**اوس دې په غږ کې هغه شور نشته دی، زور نشته دی**
**څه وشو یاره که وطن مې نشته، کور نشته دی**

جمعه، ۱۴، ۱۲، ۲۰۱۲ء

**زه په خلکو خفه کېږم، زه له خلکو خفه کېږم**
**اې زه هره ورځ مړ کېږم، هره شپه راژوندی کېږم**





زړه داسې شي دی چې خفګان پېژني
دغه خفګان میرات جانان پېژني

د چا په نوم چې سیاست روان دی
په دوي کې څوک باچاخان پېژني

مونږه خپل ورور عزیز ونه پېژندو
شین سترګي خپل پاتې بُتان پېژني

په یو کېدو پښتون ته ځان بد ښکاري
نور هر سړی، ګټه تاوان پېژني

د عام اولس نه دې څوک وکړي تپوس
نه څوک روښان نه خوشال خان پېژني

یه خدایه! شکر دی، ستا ډېر ډېر شکر
په سلو کې مې، لس کسان پېژني

د دنیا ټولو مرغو وکړو ارمان
انسان به کله بل انسان پېژني

●●●

زه او جانان يو
په يو بل ګران يو

که لرې لاړ شو
د ژوند مَلیان يو

خلک په ځان دي
مونږ د جهان يو

غم او راحت کې
ښه په لړزان يو

په مونږ تاوان شه
په تا تاوان يو





يا نه پوهېږو
يا ساده ګان يو

کله خاموشه
کله طوطيان يو

شکر په دې دی
چې شاعران يو

په چا به ګران خو !
په چا ارزان يو

بس چې ژوندي يو
په امتحان يو

زما ارمانه !
ستا په ارمان يو

●●●

زه چې ستا نه جدا کېږم، زور به اخلم
اې چې هر چرته او سېږم، زور به اخلم

هېرېده او ستا؟دا سوال نه پېدا کېږي
خو له تا نه چې هېرېږم، زور به اخلم

د ظالمو نه د هر چا ویره کېږي
خو د ځان نه چې ویرېږم، زور به اخلم

په تش سوچ د جدایۍ مې داسې حال دی
چې غورځېږمه پاڅېږم، زور به اخلم

بې له تا کلي کې څه دي، اختر څه کړم؟
بس په دې باندې پوهېږم، زور به اخلم

ستا ارمان زما ارمان او زما ستا دی
چې بیلېږم نو غوڅېږم، زور به اخلم

د اتوار ورځ، ۱۱:۱۲ بجې، پېښور ښار





پښتون یم، ښکلی یم، منم خو زورور نه یمه
ټوټې ټوټې، ذرې ذرې یمه د شر نه یمه

ما په اسانه په یو څو ټکو کې مه نغاړه
دومره اسان نه یمه دومره مختصر نه یمه (۱)

دومره غمونو دومره سختو ته به څنګه ټینګ شم؟
زه خو انسان یمه د ګټې بُت یا غر نه یمه

زما قسم دې وي په روح د پښتنو بې وسۍ
بې هنر یم، بې تعلیم یم خو ترهګر نه یمه

زما جانان جانان وطنه! تاته څه ډالۍ کړم؟
زه مسافر یم د خپل مور پلاره خبر نه یمه

۱: څه په اسانه دې یو څو ټکو کښې ونغښتمه
دومره اسان نه ومه دومره مختصر نه ومه
رحمت شاه سایل

د موسمونو د خوندونو نه به څه خبر شم
په ملاکنډ، کابل، خېبر او پېښور نه یمه

ما په تیاره کې ژوند کوؤ خو د رڼا په هیله
خوږ شوی یم لویېدلی یم، ژاړم منکر نه یمه

یو سوال کوم دا مې ارمان دی تاسو وایئ آمین
ما دې خدای واخلي که غمخور د لر او بر نه یمه

سحر ۵:۳۰ بجې، پېښور، د ګل ورځ، ۸، ۲، ۲۰۱۵ء





درد تېرومه په خپل زړه خو هسې ژاړمه نه
هر څه ترې غواړم، رب مې خپل دی، تا ترې غواړمه نه

زه ستا د پاک وطن نه لرې څه چې ډېر لرې یم
ځان رانغاړلی شم، خو کډه لا رانغاړمه نه

●●●

یاران به درته ناست وي انتظار به دې کوي
خواران به درته ناست وي انتظار به دې کوي

په هیڅ مه پخلا کېږه خو بس دومره قدرې واوره
چې خان به درته ناست وي انتظار به دې کوي

خدای خو دې دغسې ودان ساته
حجره ژوندۍ ساته یاران ساته

خلکو باچا کړې چې وطن جوړ شي
ته ځان پوره او وطن وران ساته

چې یو کوزبړي بل ته دا وایي
دا پښتانه ټول په لړزان ساته





د کلي خانه ! مشوره درکړم؟
هسې په خیال کې یتیمان ساته

دا اوسنی سیاست نه یادوم
خو عقیده په باچا خان ساته

چې مونځ کوې درنه پېزار پټ کړي
خدای دې له داسې مسلمان ساته

بس که ټوپک کېده قلم واخله
په سینه ښه کتاب جانان ساته

خانه ! که ته د ژوند رڼا غواړې
نو د ښه وخت زړه کې ارمان ساته

سحر ۵:۰۰ بجې، د زیارت ورځ، سوات، ۲۸، ۵، ۲۰۱۵ء

وریځې چې خفه شي نو باران پسې راځي
غمونه چې شي ډېر ژړا ، خفګان پسې راځي

یادونو ازمرو راګېره کړې یو هوسۍ
بې وسه یم خندا راله په ځان پسې راځي

زما د مرګ نه پس به ته خفه یې او که نه؟
د غم نه پس ښادي په هر انسان پسې راځي

چې مینه پکې وي ویرېږه مه له هغه کس
چې کرکه چا کې ډېره وي شېطان پسې راځي

یو څوک دي چې په زړه کې یې ساتمه لکه درد
ارمان ارمان ارمان ارمان پسې راځي

۲۰۱۵/۲/۱۰ء، سحر ۳:۴۳، پېښور ښار





ما چې کله هم څوک ازمیئلي دي
هغه خلک ټول پاتې راغلي دي

ته به په اوقاتو کې اوسېږې خو
مانه خو اوقات هم وخت تروړلي دي

وَس مې نه لرو تا ته مې نه وې خو
ډېر ډېر مې پر تا پسې ژړلي دي

تا له د خندا بهانې ګورمه
خپله خو مې هر، هر څه بایللي دي

منم چې ښه، ښه وي او بد ، بد منم
هغه څه رېبم چې مې کرلي دي

خپله به هم ژاړي، هاغه څوک ګوري
چا چې هم د چا بچې وژلې دي

زه چې به یې په وخت اوده کولمه
هغه ټول عکسونه مې سپځلي دي

حج او عمره داسې مې ادا کړه چې
ما د مور او پلار مخ ته کتلي دي

چا چې به په امن پسې سر ماتوو
آیا چا خانیان له مینځه تلي دي

څوک چې دا وطن بدرنګوي غرق شه
خولې نه مې ښېرې د مور وتلي دي

ستا د هر ارمان، ارمان مې کړی دی
منم بلها زړونه مې ګټلي دي

سهار ۲:۰۵ بجې، د پنځمې ورځ، سوات، ۲۸، ۰۴، ۲۰۱۵ء





څوک به راځي جانانه
او څوک به ځي جانانه

یو غریبي جانانه
بل جدایي جانانه

لړه رڼا ته خو شه
و اخله بنګړي جانانه

دا د ګرمۍ روژې او
مسافري جانانه

ځه زاري نه کوم خو
غم دې ما خوري جانانه

اې راسره اوسېږه
بس تر مرګي جانانه

ستا په ښایست ښایسته
زما ځواني جانانه

کابل چې هسې یاد کړم
زړه مې پرق چوي جانانه

که زړه دې وي نو راشه
ما درنه وړي جانانه

درسره بده ښکاري
بې وفایي جانانه

څنګ په چل ول دې خپل کړم
پردي پردي جانانه

د ننه پس به کوو
باچاخاني جانانه





دا په تا څه شوي دي؟
یه پخواني جانانه

ما به بې ځایه مړ کړي
ستا خاموشي جانانه

(۱)مونږ د انسان له ویرې
ساتلي سپي جانانه

په ماهیپر، ملاکنډ
به شي سپرلي جانانه

چې پښتون خپل کړي کتاب
نو جنګ ګټي جانانه

څنګه به تول راتول شي؟
دا لیوني جانانه

۱ سپي مې څوکۍ کوي انسان مې وژني
عبدالرحیم روغانی بابا

ماله واپس پکار ده
زما خاني جانانه

بی تا جهان راته دی
خالي خالي جانانه

د ژوند په هره لاره
یم تاواني جانانه

بس که نو بس که کنه
دا ځان ځاني جانانه

اوس خلکو وپېژندم
مهرباني جانانه

ارمان مې دا دی چې تا
کړم ارماني جانانه

د زیارت ورځ، د شپې ۲:۳۷ بجې، ۲۸، ۵، ۲۰۱۵ء، سوات





دا ځلې چې راشمه
سوال کوه چې ستا شمه

کله کله سوچ کوم
زه به هم فنا شمه

وژاړمه وژاړم
ستړی په ژړا شمه

درد چې لېونی مې کړي
هسې په خندا شمه

ځان ته به ښېرې وکم
تاته به دعا شمه

زړه کلک کړم چې ویم ورته
ویلو کې خطا شمه

تا ته به یادیږم نه؟
سر چې په صحرا شمه

خپله په تیاره ښه یم
بل ته به رڼا شمه

خان به خپل ارمان مړ کړي
زه به پرې ګوا شمه

سحر ۵:۴۸، سوات، د شورو ورځ، ۲۲،۵،۲۰۱۵





یو څه خو شته جګرکه! چې ما تاته نه پرېدي
یو څه خو شته ما تا ته او تا ماته نه پرېدي

یو کس وو په تیاره کې یې رڼا ځان له پیدا کړه
دا خلک هغه کس هغې رڼا ته نه پرېدي

ما سوچ هم نه وو کړی چې به تا د لاسه ورکړم
ما وې چې لېوني به څوک صحرا ته نه پرېدي؟

اوس پوهه شومه اوس مې عقل ورو ورو کار شروع کړ
ژړا کې یې خوښېږم ما خندا ته نه پرېدي

یو وخت به داسې هم راشي پښتونه! اوده اوسه
چې خپل سکه بچې به خپل دادا ته نه پرېدي

ارمانه! چې زه مړ شمه نو بیا به هم ژوندی یم
یو څوک به تا له راشي تا به چا ته نه پرېدي

سوات، د شپې ۳:۲۳ بجې، ۲۷،۰۵،۲۰۱۵

خفه یمه د ډېرې مجبورۍ نه درته ژاړم
قسم دی که د غم یا د ښادۍ نه درته ژاړم

په خپل وطن کې ورک یمه د خپل کلي او کوره
یه خدایه ! د اوږدې مسافرۍ نه درته ژاړم

ته چرته یې جانانه ! ته زما نه څه خبرېږې؟
په لوی افغانستان کې د کرغېږۍ نه درته ژاړم

لمونځ ځانله کوم ربه ! خو دعا وطن له غواړم
په نیمو نیمو شپو د بدامنۍ نه درته ژاړم

دا خاوره زمونږ مور ده او ارمان مې د مور غېږه
یو خوب دی خوږ دی خوب د بې خوبۍ نه درته ژاړم

اتوار، ۱۳، ۰۱، ۲۰۱۳ء





خان یمه خاني مې لا په سر ده نو
ستاسو دښمني مې لا په سر ده نو

هغه وشو دا وشو دا ته څه وې؟
لویه ربښتیني مې لا په سر ده نو

تنګ شو مه په جنګ به شم او ځم به ترې
منم ځان ځاني مې لا په سر ده نو

ما لکه یوسف کوهي ته کوز کړئ خېر
ورونړو ! قرباني مې لا په سر ده نو

ستا په لمونځ روژه به خدای تا بخښي؟
دغه حېراني مې لا په سر ده نو

ستا ګناه ثواب، زما ثواب ګناه
برخه اسماني مې لا په سر ده نو

مینه پکې ګرانه او نفرت وېریا
دغه ارزاني مې لا په سر ده نو

ساز ته پکې غل او سپین په تور بلو
دا مسلماني مې لا په سر ده نو

مور ته به دې یاد کړم، ته سمېږې نه
ستا دا شیطاني مې لا په سر ده نو

۴:۱۰ بجې، ۱۲، ۲، ۲۰۱۳ء





شکر دی شکر دی اشنا چې درسره نه شومه
تا ډېر څه ووې، زه هر څه شوم خو خفه نه شومه

دا د سحره پورې شپه یوائې څنګ تېره کړم
مینه مې وکړه خو دمه نه شوم، ویده نه شومه

زما نه هر څوک خفه کېږي، ما هر څوک ژړوي
زه هم انسان یم خو د چا د زړه تهو کړه نه شومه

چاپېره خلک وو په سترګو کې خبرې کېدې
کیسې مې واورېدې خو زه هډو کیسه نه شومه

●●●

په موده پس مې غږ د یار واورېدو
اې ! ما قربان او یکه زار واورېدو

زما زخمي زړه ته ټکور راغی
چې ستا د خولې نه مې انکار واورېدو

که دوي په تا پسې جرګه نه درتله؟
قسم په خدای که مې بیا پلار واورېدو

بس یو ته پاتې وې ته هم ووایه
نور خو والله چې مې ټول ښار واورېدو

ستا ناڅاپي راتګ له څه نوم ورکړم
دشت کې مې زېری د بهار واورېدو





د دې واکمنو نه یې سر ټکوو
ما خپل پردی روغ او بیمار واورېدو

امن به راولي خو ما به پرې کړي
ما دا فریاد د یو چنار واورېدو

معیار یې خوښوو خو خبر ترې نه وو
عمر له مونږ داسې فنکار واورېدو

د کابلي رومال کیسه یې وکړه
اتل صیب ! ما هغه ټوکمار واورېدو

چې چرته هم د ښکلو ذکر وشو
ما پکې نوم د کندهار واورېدو

ته به ارمان وکړې خو زه به نه یم
شې به هوښیار خو که دې خوار واورېدو

منګل، ۷:۰۵ بجې، ۲۴، ۹، ۲۰۱۳ء

ستا د سحرې سلام
لکه احسان په غلام

خبرې ختمې ښه دي
ځان سره يم هم کلام
دومره رالوی شومه خو
نه مې خوب شته نه ارام
درد وي که غم که سخته
دا واړه دي ستا انعام
قافيې سترګې لرې
بيا هم کومه ناکام
ستا څه زما په نامه
زما هر څه ستا په نام
شکر په دې ډېر شکر
خپله دې کړمه نيلام

غزل دې خوښ نه شولو
ولې ارمان کړې د جام

●●●





ژوند به مې رڼا شي خو په خوب کې به ويرېږمه
خوب به راله راشي خو په خوب کې به ويرېږمه

زه د خپل بچې دې ناروغتيا سم خفه کړی يم
شپه خو به سبا شي خو په خوب کې به ويرېږمه

کړې ديدن شماره او زباده يې هم حساب به کوو
زړه به مې صفا شي خو په خوب کې به ويرېږمه

زه لا څنګ انسان يم ستا نفرت سره هم مينه کړم
هر څه به زما شي خو په خوب کې به ويرېږمه

●●●

یو باران، بله یخني او انتظار
شپه مې سترګو کې کړه تېره، شو سهار

د انسان لپاره دومره پېغور بس دی
چې رانه شي دی د بل انسان پکار

مرغۍ مه وله ښېرې به يې بچي کړي
اور دې پورې شي په غوښو ستا د ښکار

بلها خلک دعوه کړي چې زه يې خوښ يم
نه مې کلي کې څوک خپل شته نه په ښار

لوی سړی يم خو چې اوس هم لږ خفه شم
يوه مور مې په سر لاس راښکي چې ځار

يوې پېغلې راته وې چې ژوندون څه دی؟
ما وې غم، ښادي يا روغ او يا بيمار

يو ارمان وو په ارمان ارمان يې لوی کړم
په ارمان د نادانۍ شو مه هوښيار

۰۲، ۰۵، ۲۰۱۱ء





په زړه مې غم دی
ياره! خوب کم[۱] دی

ستا به وي خوب خو
زما صنم دی

په ما يې کړی
هر رنګ ستم دی

ټوپک ټوپک دی او
قلم قلم دی

۱: کوم

واک مې پردی دی
ژوند جهنم دی

زخم ته ګوره
دغه مرهم دی

کلي ته راشه
ښکلی موسم دی

هر څه بلها دي
نصیب مې کم دی

بیا جوړ خطا شوم
دا څنګ قسم دی؟

پلار مې کرلی
هر ځای شړشم دی

●●●





(د فخر افغان باچا خان بابا په نوم)

څوک چې سم وو هغه سم دي محترم دي
خو افسوس چې محترم دي سم دي کم دي

د بارودو او د وینو خوند پکې دی
زمونږ کلي کې څه بل شانتې غنم دي

نور قومونه بره وختل اسمان ته
پښتانه په ځمکه خپلو کې اړم دي

پخواني ماشومان بؤ، بلا نه تنګ وو
او اوس خلک حیران کړي څه دي؟ بم دي

په نیم سر مې درد دی نوم مې هم پرېوتی
عقیدې مو د روښانې ترور په دم دي

انسانانو نه ده ورانه ګنې نور خو
ښه او بد، ښکلي بدرنګ ټول د آدم دي

یوه ډله به زمونږ نه وطن اخلي؟؟
ولې؟ څوکې کړېږ شوې د ایلم دي؟؟

خپل ارمان راته یو داسې غم بخښلی
چې غمونه مې د غم سره په غم دي

سهار ۲:۵۵ بجې، ۱۹، ۰۲، ۲۰۱۵ء، پېښور ښار





لږه مستي پکار ده
او موسیقي پکار ده

په زړه کې رحم ښه دی
په خوله سختي پکار ده

مینه هر څوک غواړي خو
مونږ له بېخي پکار ده

رب دې خوشحاله ساته
بس خوشحالي پکار ده

لکه ښایسته د ننګ چنار
داسې ځواني پکار ده

د ژوند سندره ګرانې!
ښه رومانې پکار ده

په ټول وطن کې ټپه
د پسرلي پکار ده

د امنیت لپاره
لږه خواري پکار ده

په خوږندو رحم کوه
ورور ته زاري پکار ده

د مور او پلار په مخکې
ښه عاجزي پکار ده

کابل ته کله به ځو
مړه تادي پکار ده

خدای پیدا کړي ښکلي
پرې شاعري پکار ده





اوس دې د هر غم سره
پخه یاري پکار ده

سپوږمۍ ته شپې روڼوم
چرته چې وي پکار ده

ستا به پېزوان وشي خو
مسافري پکار ده

وړه ښایسته شان ټیکه
ستا په تندي پکار ده

کور مې را یاد شو صېبه !
ماله چوټي پکار ده

ارمانه ! ستا به شمه
خو زندګي پکار ده

●●●

چې خفه را نه جانان وي
نو په هغه شپه باران وي

ما یواځې ښار کې پرېدي
خلک کلي ته روان وي

په روژه په اختر نه یم
خو چې مینه ژوند اسان وي

د باران څاڅکو ته ګورم
خدای ګو څوک هېرول ګران وي

د سوات غرونه داسې ژاړي
لکه دوي چې ماشومان وي

هر یو ښکلی په ما ګران دی
د کابل که د لغمان وي

که ارمان مې پوره کېږي
ستا ارمان به مې ارمان وي

۳۱ اپرېل ۲۰۱۲ء





راځه چې لږ حساب وکړو چې چا کې مینه ډېره ده
تا کې مینه ډېره ده که ما کې مینه ډېره ده

نیم نیم به تویېږمه خو تا ته به یاد بېږمه
اوس خو ستا لپاره په دنیا کې مینه ډېره ده

هاغه وخت دې یاد شي، ستا څوک هم نه وو یواځې وې
خانده خانده خانده، په خندا کې مینه ډېره ده

هر فنکار چې اورم وایي لوی افغانستان ښه دی
چا ونه وې دا چې، پښتونخوا کې مینه ډېره ده

ځان دې ترې رانغښتی، کله مور او کله پلار کنځې
سم شه نو په خور، مور او دادا کې مینه ډېره ده

ژوند چې غواړي مړه شي او د مرګ لایقان ژوند کوي
لوی دروغژن هم وایي چې رښتیا کې مینه ډېره ده

●●●

تولـه شـپه ژاړمـه سـحر تـه اوده کېږمـه زه
زمـا پـه زړه ميـرات پخپلـه نـه پوهېږمـه زه

"بلهـا مـوده وشـوه چـې مـور مـې اوده شـوې نـه ده
مـا ورتـه يـو ځلـې ويلـي و چـې ويرېږمـه زه "([1])

[1] ایک مدت سے میری ماں نہیں سوئی تابش + میں نے ایک بار کہا تھا مجھے ڈر لگتا ہے





زه پکې خوار يم، پلار مې خوار وو، نه دا نه منمه
اې دا دی خوږ وطن پرېږدمه روانېږمه زه

په هر اختر کې کور، خپلوان، ياران، وطن ژاړم
څنګ چې مې ياد يئ، داسې تاسو ته يادېږمه زه؟

پوزه مې پرې کړه خو په مخ څپېړې مه راکوه
زه پلار ساتلی نازولی يم خوږېږمه زه

وجود مې دروند شي، رڼا ورځ راباندې توره شپه شي
په بورجلونو دې تېرېږمه، رالوېږمه زه

تا زه بخښلی يم، خفه هم نه يې خو ژوند داسې دی
د خپلو کړو قسمونو نه شرمېږمه زه

ارمانه! وايه تا په کومه لار ايسار نه کړمه؟
ژوند مې دلاسه وځي نور که ايسارېږمه زه

۲۷، ۴، ۲۰۱۴ء، پېښور

په بعضې تکو سړی پوهه نه شي
لکه په ژوند چې ژوندی پوهه نه شي

دی، نه اولاد لري، نه غم پېژني
زما په درد به ګوري پوهه نه شي
د ده خبره به کوم ده سره
په دې خبره به، دی پوهه نه شي
لږ را ښکاره شي او واپس وتښتي
لکه راتګ کې سپرلی پوهه نه شي
بیا یې ورو ته ګډوي په ښار کې
چې په ځنګل کې زمری پوهه نه شي
څه ترکیبونه کوي اغوندي یې
اخر په لاس شي بنګړی پوهه نه شي
رښا نه لري څه چې ډېر لرې شي
په نصیحت چې بچی پوهه نه شي

زما ارمانه! بس ارمان پاتې شوې
سترګې ترخې کړې لوګی پوهه نه شي

جمعرات، ۱۰، ۲، ۲۰۱۴ء، پېښور صدر





څه یاران زما په برخه
څه ماران زما په برخه

زمکې! تا راله څه راکړه
چې اسمان زما په برخه

ستاسو جنګ کې همېشه
څیرې ګرېوان زما په برخه

*

د غمونو د دردونو
ډک جانان زما په برخه

پښتنو مسلمانانو
کې هندوان زما په برخه

لېوني خو لېوني دي
ټول یو شان زما په برخه

د نړۍ لغړ سوغړ ټول
ماشومان زما په برخه

فرښتې ترې خلکو بوتلې
حیوانان زما په برخه

دا بې علمه او بې هنره
مشران زما په برخه

ګټه ستا ده ګټه ستاسو
او تاوان زما په برخه





په قربان قربان قربان شوم
په قربان زما په برخه

انسانانو کې موندلي
مې پېریان زما په برخه

د بارودو د لوګو دی
لوی باران زما په برخه

پسرلو راسره ورانه
دی خزان زما په برخه

بې ایمانه ټول راټول دي
په ایمان زما په برخه

های ارمان ارمان ارمانه !
ستا ارمان زما په برخه

پیر، ۱۴، ۷، ۲۰۱۴ء، پېښور صدر

مری مې غوټه شوې ورکه شوې رانه لاره
څه وو ایم څه ولیکم حیران یم ننګرهاره

چې هر څوک شهیدان دي جنتیان دي خدای بخښلي
دا پاتې پښتانه راله ساته پروردګاره

تر څو چې پښتانه په حقیقت کې یو ځای نشي
ختمېږي به ورکېږي به سره د مور او پلاره

ظالمه ! ستا به هم چرته څوک وي په تا به ګران وي
د هغه ګران لپاره مونږه پرېږده په قلاره

ارمان پېښور، کوټه، ننګرهار سوات او وطنه
راتوی شوه اوښکه توی شوه که مې ډېره کړه ایساره

د خالي ورځ، ۴:۲۲ بجې، ۱۸، ۰۴، ۲۰۱۵ء، پېښور





ماسره څه دي تاله څه درکړمه
دا خو به ګرانه شي چې زړه درکړمه

راځه چې ووځو د دنیا بازار ته
چې زر زر مړ شي، چې اوبه درکړمه

قاصده ! وایه ورته مه، خو یو سه
د خط په ځای به خپل رانجه درکړمه

خفه په دې نه یم، چې تا پرېښودم
خفه په دې یم چې هر څه درکړمه

بیا به مئین ته هیڅوک ښه نه وایي
زړه چې داغونه درله ښه درکړمه

د خپل ارمان په ژوند ویرېږم خلکه !
تاله به خنګه حوصله درکمه

●●●

توره تیاره ده ځان مې ځان ته اوازونه کوي
یو څه خو دي ما پاڅوي خلک خوبونه کوي

ما چې په کوم سحر له تا نه ځان جدا ګڼلی
په هغه ورځ خدای باران نه بارانونه کوي

چا چې په شعر کې مینه راوړه او په ساز کې امن
نیمې نه زیات خلک په هغه پیر شکونه کوي

پخپله ده به د دروغو مینه کړې وي نو
څوک چې مئینو له د صبر تعویذونه کوي





زه جوړې ډېر زیات ګناهګار یمه چې نه ښه کېږم؟
ډېر خلک شته راله دعا کوي، نفلونه کوي

دلته ډېر څه کېږي روا دي، دلته څه نه کېږي
خلک بې وخته اذانونه او لمونځونه کوي

پخوا به یو نیم تن کوو چرته یو واري ازمېښت
اوس په مونږ هره ورځ او هر څوک ازمېښتونه کوي

اوس خو یو زه یم چې ارمان او ژړا دواړه کوم
یو وخت به راشي ما پسې به ارمانونه کوي

د زیارت سحر، اتلسمه روژه، ۱۷، ۷، ۲۰۱۴ء، پېښور صدر

اې ګرځې پسې هر وختې هنداره ده او که زه
په خدای به شې ملګرو ! هغه خواره ده او که زه

چې ختمه شوه ټپه نو یه قربان یې که چې بیا شه
انګی انګی تنګی، دا ټپه ماره ده او که زه

خبرې کړم، خبرې کړې، خبرې نه ختمېږي
خبر به شې چې دا ډېره هوښیاره ده او که زه

ته زیړه شوې، زه تور شومه، زړه سوزي درد یې پرېښی
یه خدایه ! نو چې دا ډېره بیماره ده او که زه

ارمان مو سره یو دی، ته وې بس ته ماته ګوره
(۱)خندومه یې، (۲)ژړې مې دا فنکاره ده او که زه

**د جمعې سحر، ۸، ۸، ۲۰۱۴ء، حیات اباد، فېز ۲، د غلام یونس کور**

۱ خندوم
۲ ژړوي





په زړه مې غم وي غم وي غم وي ماله خوب نه راځي
بس چې لږ هم خفه صنم وي ماله خوب نه راځي

تاته به هسې دروغ وویم چې اوده شومه زه
نور په خدای مې دې قسم وي، ماله خوب نه راځي

زما د قام بچې پېښې په تماچو ورکوي
د خلکو لاسو کې قلم وي، ماله خوب نه راځي

مور مې قاربږي چې د شپې لږ شانتې خوب هم کوه
چې سترګې پټې کړم ماتم وي، ماله خوب نه راځي

خلک یاران ساتي، دوستان پالي، اخترې کوي
زمونږ یار مار او دوست لړم وي، ماله خوب نه راځي

د ننګرهاره خوب راځي خو اوده کېږمه نه
بیا به پیاده تله په تورخم وي، ماله خوب نه راځي

منګل، ۵ بجې، ۳۰، ۹، ۲۰۱۴ء

د خلکو مینې ته حېران پاتې شم
خدای خو دې وکړي چې انسان پاتې شم

ګران ګران کارونه يې په ما اسان کړه
اوس ګرانه ده چې ورته ګران پاتې شم

پاتې کېدو له به منت غوښتو ما
اوس بې تپوسه شم روان پاتې شم

د مینې څه چې د جنګ هم څوک نشته
ځانله کړم څيرې خپل ګرېوان پاتې شم

چې لږ په امن او امان پاتې شم
بیا دې خدای نه کړي چې د ځان پاتې شم

ارمان ارمان ارمان ارمان او ارمان
ارمان چې ستا په زړه ارمان پاتې شم
جمعه، ۳:۵۰ بجې، ۱۰، ۱۰، ۲۰۱۴ء، پېښور صدر





ژوند ته چې ما په کوم نظر کتلي
هغې نظر ته تا کمتر کتلي

ته چې کم ستوري نن په شپه کې وینې
ما پرون دا ستوري په لمر کتلي

ما له د ښو ځواب په بده راکړي
خپل مئینان چې مې اکثر کتلي

ستا د رڼا هلو په تمه نه یم
ټولو تیارو ته مې ژور کتلي
۰۹، ۱۲، ۲۰۱۴ء، ماښام، پېښور صدر

تاتـه دې يـاده وي چـې زه بـه څـه کـړم
بـې لـه وزرو الوا تـه بـه څـه کـړم

د غنـي خـان بابـا آ شـعار دې يـاد دی؟
د بـدو بـد وي، خـه پـه ښـه بـه څـه کـړم
منګل، ۳، ۳، ۲۰۱۵ء، د موسيقۍ عالمي ورځ

روان ومـه پـه لاره، سـتا رومـال راسـره وو
خوشـحاله وم خـو غـم د نـوي کـال راسـره وو

"د تـورې لـه تېوپکـه چـې قلمـه پـورې تلـم
د قـام او د اولـس د بچـو خيـال راسـره وو "[1]

پښتون ومه، پښتون يمه، نو څنګه به ويرېږم
په يو وخت کې، کمال، جمال، جلال راسره وو
●●●

[1]: د ډاکټر محمد اسرار اتل شعر.





لکـه پـه وچـو کـې لامـده وسـوزي
"زمـا اکثـره پـه ځـان زړه وسـوزي "

ژړا حل نه دی خو يو ډاډ پکې دی
په دې اوبو د مخ نه سره وسوزي

نـن سـبا دا سـې لـوغړن ګرځمـه
لکـه ډوډۍ پـه تنـاره وسـوزي

تـه مـا سـېزې او زمـا دا مثـال دی
لکـه سـکاره پـه دوبـاره وسـوزي

د زړګـي ويـنـې سـړوم پـه اوښـکو
پـه اوبـو څـه رنګـه اوبـه وسـوزي

زه هـر ارمـان لـوخړه کـړی يمـه
مـړه پـه مـا کـې بـه نـور څـه وسـوزي
منګل، سحر ۴ بجې، ۱۲ دسمبر ۲۰۱۴ء، پېښور صدر

نن چې مړه دي ماشومان دوي به بیا راشي؟
پښتنو کې به د علم رڼا راشي؟

که یو څو ورځې قلاره قلاري وي
جرم هیڅ نه وي او لویه سزا راشي

یو افغان دی، یو پښتون دی، لېوني شو
یو غم تم نه وي او بله بلا راشي

د ژړا اختیار یې هم له ما اخستی
په خندا پورې څو هسې خندا راشي

امن اوس د انسانانو وس کې نه دی
را به شي خو که پخپله الله راشي

بدهـ، ۳:۳۶ بجې، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۴ء، پېښور ښار





بیا دې په ژړا کړمه؟
ځان نه دې جدا کړمه

خلک له تیارو تښتي
زه خفه رڼا کړمه

دلته مې څوک نشته او
هر وخت دا دعا کړمه

زه خو داسې نه ومه
زه دا داسې چا کړمه

تا سره وفا کړمه
ځان سره جفا کړمه

تا نه چې خفه شمه
خپله ځان پخلا کړمه

ستا د انتظار خوربو
ځان سره لګیا کړمه

زه خو چې هر څه کوم
ستا سو په رضا کړمه

ژوند مې وربخښلی دی
مینه په رښتیا کړمه

هسې په ارمان ارمان
شپه ټوله سبا کړمه

●●●





څومره ساده او څومره ښکلې لکه ګل ګرځېدو
هغه اجل ته هم کتل به یې خندل ګرځېدو

چې ته مې ولیدې ردیف او قافیې پېدا شوې
د پرې مودې نه مې په خیال کې یو غزل ګرځېدو

یو زه سپېره وم، زه بدبخته وم، تا ښه وکاته
هغه ښایست وو په خپل ذات کې مکمل ګرځېدو

ما پسې غرونه لټ په لټ کړه، ښه وه و مې مونده
خدای شته چې هسې مې په ذهن کې کابل ګرځېدو

"هغه د ښار په لنډو وتو لارو ښه خبر وو
هغه به ټوله ورځ روزګار پسې پیدل ګرځېدو "(۱)

هغې د ټول کلي د مخې ښه په جار وویل
خبر ترې نه یم خو بېګاه دلته یو شل ګرځېدو

ژاړې به نه خو دا خبره به دې خوب تښتوي
چې ستا په زړه کې وو او بیا هم لکه غل ګرځېدو

هر څه هغه دي، هغه نشته، دا منظر مې وژني
ارمان د ګوتې نه نیولی وو، اتل ګرځېدو

●●●

۱: د ډاکټر محمد اسرار اتل شعر





ته راته وو ایه چې ما ولې ټپه ونه کړه
ځکه چې تا مې هم د مینې تذکره ونه کړه

بلها راغلو مېلمنو ته هر کلی مې ووې
ستاسو د کلي راته هیچا هم کیسه ونه کړه

د پېښور ښار کې په هر دېوال اوس دا لیکمه
ته د کابله راغلې او مونږ کره دې شپه ونه کړه

ټول مئینان ورته راغونډ وو تماشې وې خلکه!
افسوس په دې چې هغه خپل یې تماشه ونه کړه

زما د پاره یې په زنه شینکی خال ایښی ؤ
زړه که مې ډېر غوښتل خو ما یې ننداره ونه کړه

ستا په ارمان کې او زما ارمان کې ډېر فرق دی
لوګی لوګی دې کړم خو ما هډو لمبه ونه کړه

د اتوار ورځ، ۲۸، ۲، ۲۰۰۹ء

دا یو څو ورځې مې د غېږې نه مزې واخله
زما د شونډو نه د خپل حسن کیسې واخله

دا پېښور به درته پرېږدمه، خو ژاړې به نه
تا سره تېرې چې شوې، دا رنګینې شپې واخله
۷، ۳، ۲۰۰۹ء، د جمعې ورځ

دلته د چا په چا اعتبار نشته
زما د سره هم څوک یار نشته

چې ستا د زنې خال ته ناست یم، ژوند کړم
زما سپېره هډو څه کار نشته
۳۱، ۳، ۲۰۰۹ء، د ګل ورځ





ستا په خبرو هسې وایم خو مړېږمه نه
ته مې اوده کړې او پخپله اوده کېږمه نه

داسې یو وخت وو چې بېخي به درنه هېرېدم
داسې یو وخت دی چې بېخي درته یادېږمه نه

چې ته په غم کې یې او ته پکې ژوند نه شې کوی
د خدای ظالمې ! زه به څه رنګه ژړېږمه نه

د ځوانۍ وخته ! که په پښو درله هم پرېوځمه
خو تا قسم کړی چې چاته ایسارېږمه نه
۲۰، ۱۰، ۲۰۱۳ء، دوبۍ شارجه

تا په ښکاره وژړل
ما پټ په زړه وژړل

ته درد پدې په مینه
ما په هر څه وژړل

وخت د رخصت کې ښه وې
چې دواړو ښه وژړل

ما په لمانځه کې ژړل
تا په سجده وژړل

بیا به یو ځای شو که نه؟
تلو کې مو تله وژړل

پیر، ۱۴، ۱۰، ۲۰۱۳ء، دوبۍ ته د تلو په ورځ





په مینه کې د مینې امامت مې کړی نه وی
مئین وې سم مئین خو محبت مې کړی نه وی

ما ټوله شپه د یار سترگو ته تېره کړه نشه شوم
افسوس د دغو سترگو عبادت مې کړی نه وی

●●●

ستا د تلو په شانتې تله چې چرته وینم
ټول رپېږم لکه غله چې چرته وینم

ویم چې ښکته شم او ښکل یې کړم په مینه
دا خاپونه ستا د پله چې چرته وینم

●●●

څه بلها کیسې بلها خبرې به مې هېرې شي
داسې وخت به راشي چې سندرې به مې هېرې شي

دومره وخت ته وایه چې د امن د کونترې
څنګه هغه ماتې پښې وزرې به مې هېرې شي

ګرانه ده چې چرته یې ځواب هم راپیدا کړمه
ګرانه ده چې ستا سترګې سوالګرې به مې هېرې شي

یاره ! چې به داسې مقام هم په ژوند کې راشي لا؟
یاره ! چې ستا اوښکې ملغلرې به مې هېرې شي

وخت هر څه کولی شي، زه تا رسوا لیدی نه شم
ستا لارې د دې بلا د ویرې به مې هېرې شي

ودرېده په لار کې د ګودر دومره یې وویل
مخې ته مې مه راځه ملګرې به مې هېرې شي

زه چې کلیوال یم نو ارمان مې غرڅنی ښه دی
خدای شته که چینه، چنار، نښترې به مې هېرې شي
جمعه، ۱۸، ۱۰، ۲۰۱۳ء





ښه درته پته ده چې څه به کووم
غزل به وایم او ټپه به کووم

زما په هیڅ چا باندې وس نه رسي
خو کشرانو ته غوسه به کووم

تا سرسري کړه مختصره دې کړه
زما زړه ډک دی نو کیسه به کووم

ستا هر ګوزار ته په دې ټينګ کړمه ځان
چې وخت به راشي ګوزاره به کووم

لاسونه نه زما پرې زړه پولې شو
حق يې دی خو ښندو له حصه به کووم

ستا د يادونو په واورينو غرونو
ګرځم نو خامخا لمبه به کووم

ته ما پيدا کړې او تا زه راجوړ کړم
خدای شته که بله تجربه به کووم

ژوند حادثې دي زما زړه ترې تور دی
که ترې خلاصېږم نو اسره به کووم ؟

هغه ارمان ارمان ارمان او ارمان
ارمان ارمان ارماني تله به کووم
اتوار، ۲:۲۵ بجې، ۲، ۳، ۲۰۱۴ء





(د موسيقۍ عالمي ورځ)

زما خپله يو دنيا ده، زه د خپلې دنيا خان يم
چاته زمکه زمکه کېږمه خو چاته به اسمان يم

په دې دومره لوی سفر کې، زه يواځې راروان يم
په والله چې د دې سختو او اهونو ګورستان يم

دا منم چې يم يواځې او ستا مينه مې پکار ده
خو دا سوال داسې يو سوال دی چې د ژبې او ېزان يم

ته رڼا يې، ته زما يې، ته زما د ژوند رڼا شه
زه که هر څه يم خو واوره زه به ستا د زړه ارمان يم
۳، ۳، ۲۰۱۴ء، پېښنور صدر

د ژوندون لویه حصه مې درلـه درکړه
څۀ چې خوښ مې وو هغه مې درله درکړه

ما ګمان کوو ما تالـه رڼا درکړه
زه تورمخی یم تیاره مې درله درکړه

څه چې در مې کړه هم دغه ماته خاص وو
نور څه نه خو ډېر لـه زړه مې درله درکړه

زما ژوند څه دی؟ ما کلـه کلـه وژنـي
خوږې میني څه تراخه مې درله درکړه

په وجود مې دي اور پورې شي چې ومرم
چې دردونه په دې شپه مې درله درکړه

اې ډوبېږمه لاس را ارمان به وکړې
قسمونه ډېر پاخه مې درله درکړه

۹:۳۰ بجې، ۱۰، ۴، ۲۰۱۴ء، دوحه قطر





ما په تا فخر کړی او ما په تا ننګ کړی دی
ما ستا په مینه کې د ځان سره هم جنګ کړی دی

هر څو که کلک یم، زورور یمه او نه سوزمه
خو ستا بېلتون را سره خوي سم د پتنګ کړی دی

ما پرې د امن ګمان کړی خوشحالېږم ورته
کله چې ستا په مړوندونو بنګړو شرنګ کړی دی

ما زړونه وګټل باچا شوم خو بس ته چې نه وې
هیڅ راته کم نه وو خو ژوند مې د ملنګ کړی دی

زه د غمونو مل یم، زه په خوشحالو څه کوم
دومره حساس یم چې دې زړه میرات مې زنګ کړی دی

ډېر ځان نانګاره کړم، چې هېره دې کړم نه هېرېږې
تا په هر څه هر ځای زما د خوښې رنګ کړی دی

ته د ارمان په سر قسم وخوره ته نه تنګېږې
ما ستا نه پس د قسمونو نه هم څنګ کړی دی

جمعرات، سحر ۴ بجې، ۷، ۱۱، ۲۰۱۳ء

نن سبا مې زړه خفه دی
د هر چا مې زړه خفه دی

تا چې نه وینمه ګرانې !
له دنیا مې زړه خفه دی

ستا په هر کړي دیدن او
په وفا مې زړه خفه دی

تا وې بیا به شي جانانه !
په بیا بیا مې زړه خفه دی





زه به تاته انتظار کړم
خو رښتیا مې زړه خفه دی

ماته پته ده ځان لګي
ناروا مې زړه خفه دی

زه تیاره کې ښه یم خپر خو
په رڼا مې زړه خفه دی

هم په ځان باندې خفه یم
هم په تا مې زړه خفه دی

په دې لویه دنیاګۍ کې
بې له تا مې زړه خفه دی

تش په ځان او په ارمان نه
په هر چا مې زړه خفه دی

زیارت، ۷، ۱۱، ۲۰۱۳ء، شمشاد تي وي

څه د غم باران راورېدو شپه وه
ماته خپل جانان رایادېدو شپه وه

دغه میاشت او دغه کال مې خوښ نه شو
نن رانه اتل هم بیلېدو شپه وه

ستا هغه یادونه دي او زه سپېره
څنګه به مې یو یو غم زغمو شپه وه





نفل وظیفه وکړم او وژاړم
دغه وس په ځان مې رسېدو شپه وه

هیڅ خبر دي نه راځي نو څه وکړم
تن مې ژړېدو ، زړه خوږېدو شپه وه

ته هم لاړې، ته هم لاړې، ته هم ځه
ساه مې خدای زده ولې نه وتو شپه وه

هلته خو یخني هم اورمۀ بېره ده
کلی مې په خیال کې ګرځېدو شپه وه

ستا خفګان ته هم د ټینګې نه ومه
دلته مې خپل زړه میرات چاودو شپه وه

بس که کنه خپل ارمان له نه راځې؟
دا معصوم بچی دې لړزېدو شپه وه

بدھ، سحر ۵:۴۷ بجې، ۲، ۱۱، ۲۰۱۳ء، پېښور

شوګیره مې تولـه شپه ده تاتـه ښکارم؟
زندګي رانـه خفـه ده، تاتـه ښکارم؟

داسې نـه ده چې څـه نشته؟ خوړی نـه شم
پـه نهـره مې روژه ده، تاتـه ښکارم؟

خپل زړه خورمـه خو پـه دې بانـدې ډاډه شم
زمـا مینـه عجیبـه ده، تاتـه ښکارم؟

تـه بـه څنګـه یـې او دا دې څـه چل وکـه؟
څنګ تپوس کړم څنګ ګیله ده، تاته ښکارم؟

ژونـد تېرېـږي پـه خنـدا او ژړا دواړو
ژاړم دا مې حوصـله ده، تاتـه ښکارم؟

انتظـار، مینـه، وفـا، صبر او سـتا غـم
دا مـې تولـه اثاثـه ده، تاتـه ښکارم؟

سـتا ارمـان زمـا د هـر ارمـان ارمـان دی
لویـه سـخته مې پـه زړه ده، تاتـه ښکارم؟

سحر ۵:۲۷ بجې، ۱۴، ۱۱، ۲۰۱۳ء، شمشاد تي وي، پېښور





پـه څـه امیـد د څـه لپـاره زنـدګي کومـه
خـو بـس پـوهېږه سـتا لپـاره زنـدګي کومـه

مـا د ژونـد تـولې خوشـحالۍ دي تاسـره تړلـي
تـه مې منـزل یـې، لا پـه لاره زندګي کومـه

شپه څنګـه تېره شوه او ورځ څنګه ده مه کړه تپوس
ډېـره بې سُـره او بېکـاره زنـدګي کومـه

په شته ډک کور کې او په شته نامه جامه کې بې تا
یمـه بې مـوره او بـې پـلاره زندګي کومـه

انتظـار سـتا دی، رښـا تـه یـې، زه ارمـان یمـه سـتا
سـوات نـه لغمـان تـر ننګرهـاره زنـدګي کومـه

پیر، سحر ۶:۴۰ بجې، ۱۸ نومبر ۲۰۱۳ء، شمشاد تي وي، حیات اباد

څوک د هر څه نه وي خبر خو بې خبر اوده وي
او چا زما شان شپه خوړلي وي سحر اوده وي

مونږ یا سپي ساتو یا ټوله شپه څوکۍ کړي یو کس
د نورو خلکو جنګیالي هم په سنګر اوده وي

دا د سحره پورې شپه او جدایي ظالمه
لکه د موره چې نیازبین بچی بهر اوده وي





تا قسما قسم شیان وخوره څه غم دې نشته
دا فکر نه کوې چې څوک څوک به نهر اوده وي

مونږ پښتانه غریبانان وو او هم داسې به مرو
مالک به ویښ شي تر ناوخته یې نوکر اوده وي

تاته څه پته لګي؟ تا بې وسي څه لیدلې؟
راشه چې څنګه په سرو شګو مسافر اوده وي

هغه شپه خوب نه وي سو چونه وي او زړه خوړل وي
چې زه له یاره او یار له مانه مرور اوده وي

درد که قلار هم شي خو زړه نا اشنا سوی کوي
بس په ارمان ارمان کې په هنر اوده وي

هفته، د شپې ۲:۰۷ بجې، ۹، ۱۱، ۲۰۱۳ء، پېښور صدر

تر سحره انتظاره
سراسره انتظاره

ستا به څه خوند وي قلار شه
مختصره انتظاره

اخر داسې شوې چې شومه
مسافره انتظاره





داسې ډېرې شپې قربان شه
ستا د سره انتظاره

زورور مې زړه راتنګ دی
زوروره انتظاره

لږ خو ماسره سلا کړه
یه بې سره انتظاره

ستا په ډاډ باندې روان یم
څم په بره انتظاره

ژوند کې ډېر څه مې بایللي
جوارګره انتظاره

د تورخم نه تر لغمان تر
ماهیپره انتظاره

د کابل د هغې سره
تر دې سره انتظاره

راسره يې راسره تر
پېښوره انتظاره

ستا د غمه مې روژه ده
په نهره انتظاره

ډېر لمونځونه مې قضا شو
يه کافره انتظاره

زورور دې هم کړل ستړي
يه خود سره انتظاره

زه ويرېږم ته ډاډه يې
زړوره انتظاره





ګوري نه پرهر پرهر يم
بې پرهره انتظاره

خاموشي ده زه او ته يو
نشته ويره انتظاره

چې رانغله جوړې بيا شوه
مروره انتظاره

چې وخت راشي بيا به ګورو
ستمګره انتظاره

خپل ارمان په چنارونو
ډوب کړې لمره انتظاره

هفته، سحر ۵:۴۹ بجې، ۹، ۱۱، ۲۰۱۳ء، پېښور صدر

زما نه لرې مه ځه
اې زوروري ! مه ځه

درته منت کومه
په زړه کافرې مه ځه

دا خاموشې او یخنې
کوه خبرې مه ځه





بارود به توره کړي تا
سپینې کونترې مه ځه

پېریان به کېني په تا
میاشت د سپرې مه ځه

شعر نه غزل درته وایم
اې سخنورې مه ځه

راځه چې بیا واړه شو
جنګوو بکرې مه ځه

واه په تیاره کې رڼا
خو مسافرې مه ځه

ارمان یم سوال مې منې
چې د سحرې مه ځه

۱۳، ۱۲، ۲۰۱۳ء

چې ته نه یې او ساه اخلمه، ځان راته بد ښکاري
نامه چې د بل چا اخلمه، ځان راته بد ښکاري

ستا مینې زورولی، دردولی دومره یم چې
د چا نه چې سلا اخلمه، ځان راته بد ښکاري

زما وې رانه لاړې، اوس زما یې زما نه یې
نامه چې دې په غلا اخلمه، ځان راته بد ښکاري

د ژوند او ازادۍ په مانا پوهه شوم خو اوس چې
په قرضو باندې ساه اخلمه، ځان راته بد ښکاري

خندا مې خوروله په خندا مې ځان ساتو اوس
ژړا باندې خندا اخلمه، ځان راته بد ښکاري

اتوار، ۱۵، ۱۲، ۲۰۱۳ء، پېښور





زما سپوږمۍ سم د ماښامه شي زما نه ورکه
لکه دنیا کې چې دنیا شي له دنیا نه ورکه

دغه سپوږمۍ به ټوله شپه وي خو ستا غم کومه
زما سپوږمۍ ده د وفا او د حیا نه ورکه

یو تاریخ رقم که ما وګټه چې هېر مې نه کړې
زما په ډاډ زما په ذات کې شه هر چا نه ورکه

جمعه، ۱۷، ۱، ۲۰۱۴ء

ته مې ژوند یې په ساګانو کې دې غواړم
موسمونو او هواګانو کې دې غواړم

په لکهاؤ وظیفې درله کؤمه
په زرګونو دعاګانو کې دې غواړم

د وطن په هره پوله درته ناست یم
په پردو او په خپلوانو کې دې غواړم

اتوار، ۱۹، ۱، ۲۰۱۴ء

چې تصوير دې ښکلومه
هسې ځان دوکه کومه

ستا په ما پرواه هم نشته
زه دې زړه کې ګرځومه

چې ووځې حال راته وايه
تا به چرته لټومه





مړ مې سپوري ته ګوزار که
دغه سوال درته کومه

داسې مه وايه جانانه !
بې له تا به څه کومه

دا مې ياد دي تا ويل چې
په کمځو دې ځنګومه

ما وې زر که وه راووځه
تا وې سترګې تورومه

ما وې خوږ وطن مې وران شو
تا وې زه يې جوړومه

په ارمان مې دې قسم وي
خپل غمونه زياتومه

●●●

# نظمونه





## هغه ټول بُتان

زه د دې ښار د رنګینو سره بلد نه ومه
زه د دې ښار د تماشو سره بلد نه ومه
زه په دې ښار کې یک تنها ومه د کلي سړی
زه په دې ښار کې په ژړا ومه د کلي سړی
زما په کلي کې سحر وو مازیګر وو شپه وه
کیسه ترخه وه خو د کلي مې هوا خوږه وه
ورو ورو پرې دا سې چړق را پرېوت د نظر ښکار شو
سر به دې څه خوږوم خو مونږه لړ او بر ښکار شو
رڼا تیارې ته لاړه
لنډه اوږدې ته لاړه

هغه هغې ته لاړه
خوږه ترخې ته لاړه
اخر مو کډې وکړې
بس در په در شو خلک
تږي نهر شو خلک
کور نه بهر شو خلک
افسوس اوتر شو خلک
په مصیبت کې ویره بل مصیبت جوړوي
زه هم په دغه مصیبت کې مصیبت واخستم
کله هېبت واخستم
کله غېرت واخستم
او ورسره ورسره
سپېره غربت واخستم
کلی مې پرېښو خور او ورور مې پرېښوه
اې لنډه دا چې خوږه مور مې پرېښوه
یو څو یاران وو چې ساتلمه یې
یو څو کسان وو چې رټلمه یې
ژوند تېرېدو ښه پوهېدم په هر څه
پټ پټ به ځانله ژړېدم په هر څه
ما ښه محنت کړی دی
ما ښه همت کړی دی





ما به د ځان په غم کې ټوله ټوله شپه وژړل
ډېر به مې پټ او کله کله په ښکاره وژړل
کله اخبار ته زغله
کله بل کار ته زغله
کله نهر اوده شه
کله بهر اوده شه
کله سندرې جوړول، کله شعرونه لیکل
کله په لاس، کله کتاب کې خپل دردونه لیکل
لږ شانتې امن راغی
زمونږه کډې واپس لاړې او زه ترې پاتې شومه
ماله دې ښار لویه نامه او لوی شهرت راکړی
خو دا منه چا محبت او چا نفرت راکړی
ما د دې ښار نه د تمامې دنیا سېل کړی دی
زه په دې ښار فخر کوم، زه یې شته کړی یمه
اوس څه کیسه شوې ده
څه حادثه شوې ده
څو بمه شپه ده چې ویرېږم پکې
مانه اکثر خواږه دوستان خفه شي
چې دوي رضا کړم نو وروریان خفه شي
هر څه به ټیک شي خو دا نه ټیک کېږي

چې هیڅ بې هیڅه ترې جانان خفه شي
ما په تېږو کې غم په ګوته کړلو
او غم مې ځان ته ملامته کړلو
خو نن د هر طرفه ما ته ځان بې څوکه ښکاري
ځکه چې ما دغه خطا کړې ده
ما تاسره د خپلې مینې انتها کړې ده
تاله پکار دي چې ازار مې کړې
تاله پکار دي چې سنګسار مې کړې
خو اې افسوس.................
زما په مینه پايېدلیه ! یو ځواب خو راکه
زما د عمر د دردونو لړ حساب خو راکه
چې تاسو ونه پېژندمه که حالات بدل شو ؟
زه هم هغه یم خو ستاسو مینه او خیالات بدل شو
زه به په یو غم کې دا ټول غمونه ونغاړمه
زه به په سر سرتور دې خپل خدای ته وژاړمه
زه به ازار وکړم او زه به ځانله زور ورکړمه
زه به داغونه دې خپل زړه له یو څو نور ورکړمه
زه به دې شته شور له د خپله درده شور ورکړمه
اې زه به چغې کړم او ځان له به پېغور ورکړمه
په خپل ارمان او په اتل به نور شعرونه لیکم





د نن نه پس به په لاس نه د چا نومونه لیکم
که چا تپوس کوو چې هغه څنګ دی، هغه څنګه ده؟
زه به دې ښار ته ګوته نه نیسمه
اې زه به یار ته ګوته نه نیسمه
خور، ورور او پلار ته ګوته نه نیسمه
خپل نصیب خوار ته ګوته نه نیسمه
ځواب مې دا دی او حقیقت هم دا دی
زما اخره فېصله دا ده چې
هغه ټول بتان مې مات کړه
هغه ټول یاران مې پرېښوه
چې زما نه به چاپېر وو
زه یې ځان لره لیدلم
چې زه ښاد ومه دوي ښاد وو
اوس زه نه یمه، دوي اباد دي
هغه ټول بتان مې مات کړه
هغه ټول یاران مې پرېښوه

جمعرات، سحر ۷ بجې، ۲۴، ۰۱، ۲۰۱۴ء
(یادګیرنه: د اتل "بتان" نظم په اثر کې)

# مینه او مننه

تا وې دا ډېره ښه ده
ما وې منم درسره
تا وې موږ ټول تا سره
بې حده مینه لرو
زه هم د مینې تږې
ما وکړو ړوند اعتماد
درې کاله او وتل او
زه پکې در په در شوم
د مشرۍ له کوره
څنګ په هنر بهر شوم؟

د بشریت د نعرو
پورته کونکي خلک
اول پخپله په دې
دوو ټکو نه پوهیږي
په خله د مینې لافې
په زړه کې کرکه نفرت؟





د یو انسان زورول
د یو زړګي ماتول
خپله په مینه مشغول
او بل له ژوند ختمول

مور د شفقت سمبول
پلار د اولاد غمخور
خو دلته داسې نه ده
دلته دا دواړه غلط
کړي په اولاد ظلم
کوم کوم کړم یاد ظلم؟
لور ته انسان نه وائي
زوي ته اسمان وائي
بس په دې ظلم دې خداې
دوي له سزا ورکړي
خور هم د خور په زړه
اکثر کوي لوبې
د بدنیتۍ هغه اور
بس بلوي ژوندۍ ساتي لوبې
چې د حق وخت راشي

ځان بې خبره هم کړي
خلاف خبره هم کړي
ځان زورور او مروره هم کړي
لکه چې دا رشته
هم پایداره نه ده

رور هم د وینو تږې
رور هم د بل د خلې
د یو اوربل د شمن
د بل اوربل د خلې
مشرې ځان غصه کړي
کشر جهان غصه کړي
په خویندو ظلم وکړي
بیا وائي پوهه نه شو
اصل کې مونږ ازلي
درنده ګان غوندې یو
رازدار همراز ملګري
اکثر پکار راځي
خو ځینې داسې هم وي
چې شي اوزګار راځي
ماله په نه خبره





خدای شته چې قار راځي
دا سړی ځکه ښه دی
په ده مې کار راځي
دا هم منم خو بل به
له ده هوښیار راځي

لنډه اوږده دا ده
مونږ دروغژن بې مینې
زمونږه وینې سپینې
ای ربه ته خو څه وینې؟
ځکه مو دا حال دی
تاؤ مو له خیال جال دی
چې په یوه رشته کې
رشته څه؟ ورځ او شپه کې
مونږه مخلصه نه یو
بې حسه یو وایو بې حسه نه یو
ما د خوبونو ملکه بائیللې
ما د شعرونو سلسله بائیللې
ما په دې ښار کې ورځ او شپه بائیللې
ما ځان، ما ته، او ما هغه بائیللې
ما د رشتو په تقدس کې خدایګو
د خواخوږۍ هره رشته بائیللې

خوند مې د ژوند نه بند په بند تلې دی
ما د خوندونو ذائقه بائیللې
ما د انسان د خوشحالو لپاره
انسان صفته پرښته بائیللې

مینه او مننه کوم
یوه غوښتنه کوم
چې د چا بل چا سره
دا مسخرې مه کوئ
هر انسان زړه لري صېب
هر څوک بد ښه لري صېب
ته له وطن نه لرې
زه د هر تن نه لرې
ستا نه مې درد ستا نه احساس ستا نه مې غم زیات دی
ځم ! ستا عزت ، زما له ژونده ، محترم زیات دی

د تړونونو تار مې بایلو
مور ، خور، رور څه چې پلار مې بایلو
ارمان د ژوند شُعار مې بایلو
مسلمانانو یار مې بایلو
خالي څنګلې له میدانه اووتمه
23-07-2018





# اوښکې

اوښکې دښمن د مینې
ته اوښکې مه تویوه
ژړا نفرت راولي
ته اوښکې مه تویوه
دا انسان ولې ژاړي؟
په ژړا زړه سپکوي
زړه راډکېږي په څه؟
زړه په خفګان ډکېږي
خفګان د څه پېداوار؟
غم او ښادي نه وتي
خوشحالي غم څنګه شي؟
دا پېداوار د مینې
مینه به څنګ پېژنو؟
امن ته مینه وایي
امن به څوک راولي؟
چې مونږ یو شو کله

مونږ به یو کېږو کله؟
چې کله مینه وکړو
غم نه به څنګه بچ شو؟
چې جدايي ووژنو
دې له څه حل پکار دی؟
مینه او بې توله مینه
بیا مې په چل ژړوي؟
نه،
حوصله درکوم
دا یو درخواست مې منې؟
ته اوښکې مه تویوه
ځکه
زه نه غواړم چې
ته په ژړا باندې خپل زړه تش کړې
او
زه درنه هېر شم ځکه سوال کؤمه
ته اوښکې مه تویوه
ته اوښکې مه تویوه
ته اوښکې مه تویوه
۳:۳۳ بجې، ۲۲، ۰۱، ۲۰۱۳ء





# خفګان

زما او ستا خفګان
سم د دنیا خفګان
وي د هر چا خفګان
لکه زما خفګان
هم په خندا خفګان
هم په ژړا خفګان
راتله دې هم د غم ډک
په مخه ښا خفګان
زه درنه مینه غواړم
خبره سپینه غواړم
ستا هغه مینه نشته
خبره سپینه نشته
ځکه خو زورا خلم
په بیه شور اخلم
ته مې اوس قدر نه کړې
زړه به دې صبر نه کړې
چې څوک سلګۍ وهي
د ژوند د قدر تپوس

لـــــــړد هغـــــــو نـــــــه وکــــــه
د ډوډۍ قـــــدر د نهــــــر ســــــره وي
د اوبـــــو قـــــدر وي د تـــــږي ســــره
د دولـــــت قـــــدر د غريــــب ســــره وي
د بچـــو قـــدر مـــور او پـــلار ســـره وي
د درد تپـــوس د يـــو زخمــــي نـــه وکـــه
د مينـــــې قـــــدر د مئـــين نـــه زده کـــه
د زرو قـــــــدر د زرګـــــــــر ســـــــره وي
د وطـــــن قـــــدر مســـــافر ســـــره وي
د مـــور تپـــوس د يـــو يتـــيم نـــه وکـــه
چـــې وي پـــه زړه بانـــدې نـــيم نـــه وکـــه
زه ماشـــــــــوم شـــــــــوی يمـــــــــه
يــــا خـــــو شـــــوم شــــوی يمـــــه
تانـــــــــــــه ازاد شـــــــــــــــومه
قېـــــد شـــــوم بربـــــاد شـــــومه
يـــا بـــه ســـتا مينـــه ځـــايولی نـــه شـــم
يـا بـه بـل هـيڅ يـو څـوک زغملـی نـه شـم
وړه خبـــــره وي خفګـــــان جـــــوړ شـــــي
ماتـــه د هـــر بُـــت نـــه انســـان جـــوړ شـــي
د هـــر انســـان نـــه يـــو حېـــوان جـــوړ شـــي
مـــا لېـــونی کـــړي بيـــا انســـان جـــوړ شـــي





ښنـــګ چـــې وطـــن کـــې بـــدامني جـــوړه ده
داســـې هـــر تـــن کـــې بـــدامني جـــوړه ده
چـــې زه غريـــب شـــمه دنيـــا خـــواره شـــي
کـــه خـــواره نـــه وي خـــو پـــه مـــا خـــواره شـــي
کلـه وېـم دا د چـا ازار دی کـه ښـېرې څـه وکـړم
تانـه چـې لـرې شـمه، شـم درتـه نـزدې څـه وکـړم
بس تـه بـه ځانلـه اوده کېـږې زه بـه ځانلـه اوسـم
نـه بـه پـه مـا کـې کـار لـرې، نـه پـه تـا کـار لـرمـه
تـه بـه دا سـوچ کـوې چـې زه بـه چرتـه يـار لـرمـه
خو داسې نه ده ګرانـې ! نـه ده ګرانـې داسـې نـه
ده
مادې خدای مړ کړي خو په زړه کې مې دا سوال تېـږده
يـــا بـــه دې هســـې زړګـــی بـــد وي
يـــا بـــه دې بـــل زمـــا نـــه ښـــه مونـــدلی وينـــه

پير، ۱ بجه، ۲، ۵، ۲۰۱۳ء

# ژړا

اې په ژړا دې کړمه
اې داسې چل دې وکه
لکه په نیم ژمي کې
سحر په توره خړه
مور خپل ماشوم بچوړی
د کوره وباسي او په قصابانو یې خرڅ کړي
اې په ژړا دې کړمه
په زړګي کلک نه ومه
سپک دې کړم سپک نه ومه
د ګړنګونو دې ګوزار کړمه اوس لاس پړقوه
اوس به په ځان باندې نخرې وکړې خو را به نه شم
که دا مې یاد وي او که را هم شم خو ستا به نه شم
زه په رښا پسې سپوږمۍ ته ختم، لمر مې نیوو
او تا زما له قصده پوره اسمان واخستو؟
ما خو د مینې چل زده کړی وو غرور مې زده کوو
خو ماته پته نه وه
چې مینه کې زړونه هم تنګېږي او بوج کېږي خلک؟





بس په ژړا دې کړمه
بېخي تنها دې کړمه
برباد تباه دې کړمه
والله پناه دې کړمه
ستا خوشال خان زه ومه
تا ته رحمان زه ومه
ستا پیر روښان زه ومه
سعود، کاروان زه ومه
دومره په لنډو ټکو
تا وکه مانه انکار
لکه چې نوی شاعر
کړي د حمزه نه انکار
هله را زغله راشه
په څو څو ځله راشه
یوائې شوی یمه
وروره اتله! راشه
هاغه چې تا به ویل نه خپلېږي
هاغه چې ما به ویل ښه خپلېږي
یاره زما هغه دعوې دروغ شوې
دا شوګیرې دروغ شوې، شپې دروغ شوې

زما لا سونه، زما پښې دروغ شوې
زړګیه ! ته به کله چوې دروغ شوې
اې په ژړا دې کړمه
ښه شوه جدا دې کړمه
ته داسې وګڼه چې زه هډو پیدا نه یمه
زه به دا وګڼم چې زه د سره ستا نه یمه
داسې دې نه پرېږمه، ډاډ به درله هم درکؤم
که ته یې اورې او که نه خو دا تپه به کؤم
څوک مې د حاله خبر نه شو
لکه سکاره په دوباره انګار له ځمه

منګل، ۷:۱۰ بجې، ۲۴، ۹، ۲۰۱۳ء





# جدایي

ستا جدایۍ کې څه لیکل غواړمه
او تا ته داسې څه ویل غواړمه
چې اخر ولې تا زه داسې کړمه
ته به یې منې نه؟ چا زه داسې کړمه
زه د خپل کلي یو خوددار هلک وم
هر غم مې وړلی شو فنکار هلک وم
ماله په کلي کې هم ډېر دردونه
خلکو راکړي وو په زړه داغونه
خو داسې نه وو لکه تا چې راکړه
یا ستا وفا او ستا ښکلا چې راکړه
څه مجبورو په مخه کړي ومه
او څه سیالو په مخه کړي ومه
اې ماته چا ویل چې ښار ته راځه
اې ماته چا وې چې انګار ته راځه
د روغاني بابا اشعار مې یاد وو

ښار ته راتلم په ټوله لار مې یاد وو
زړګیه ! سل ځلې توبې مې وکړې
اې په خپل ځان سمې کانې مې وکړې
ماسره هیچا یاري کړې نه ده
البته ډېرې یارانې مې وکړې
منم چې ستا سره غمونه ډېر وو
ماسره هر قسمه سوالونه ډېر وو
دوکه دې نه کړمه خطا مې وکړه
مینه مې وکړه، دا ګناه مې وکړه
اول به تا ماته ژړا کوله
ما به په تا پورې خندا کوله
اوس زه ژړېږمه، ته هیڅ نه وایې
خدای ګو مړ کېږمه، ته هیڅ نه وایې
تاسره هر سړي زیاتی کړی دی
ماسره هر سړي کمی کړی دی
بغیر له تا نه ماله خوب نه راځي
بغیر له ما نه تاله خوب نه درځي
ته ما پرېدې نه خو بس زور اخلم
اې د هر خوا نه ستا پېغور اخلم





زما یقین نه راځي څه به کېږي
ژاړم خدای ته، ته وې ښه به کېږي
اخر د کوم جرم سزا تېروم
چې زندګي به بې له تا تېروم
زه د کلونو درد پېدلی انسان
د کمرونو غورځېدلی انسان
هر غم ته زه په رون تندي ولاړ یم
کشتۍ ډوبېږي په لرګي ولاړ یم
اوس په هر شعر کې زما کیسه ده
ژړا راځي څه نا اشنا کیسه ده
ماله یو ډاډ یو حوصله پکار ده
ماله زما د زړه ټوټه پکار ده
داسې څوک شته چې دا ببلتون پوهه کړي
د غم شپېلۍ بند کړي دا شپون پوهه کړي
د نن نه پس لکه یتیم شومه زه
په جدایۍ کې دې نیم نیم شومه زه
اې زه به چاته خپل حالونه وایم
اې زه به چاته خپل خیالونه وایم

داسې څوک شته دی چې ما وپېژني؟
شمکور به څنګه دنیا وپېژني
ته خو زما د روح قرار یې ګلې !
ته مې هم کلی یې هم ښار یې ګلې !
ستا به زړه نه چوي چې ما داسې پرېدې
ته خپل جنت او دنیا داسې پرېدې
ما ښه بلها مسافري کړې ده
ما د ډېر وخت نه شاعري کړې ده
ما د الله په هر کار شکر ویستی
ما کله داسې جدایي کړې ده
دا نننۍ شپه دې خدای نه تېروي
ما خو په تا بلها خواري کړې ده
تا به د پاک الله نه غواړمه زه
هرې ټپې ته به اوس ژاړمه زه
ته داسې مه وایه چې لاړمه زه
په دې ټپه نظم رانغاړمه زه
جدایي راغله لاړې دوه شوې
مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه

هفته، ۰۲، ۱۱، ۲۰۱۳ء





# ستا نه لرې یمه

څو یمه شپه ده ستا نه لرې یمه
کمزوری شوی، زوروری یمه
مخکې به هم د شپې نفلونه کړه ما
کله به داسې فریادونه کړه ما
اې اوس په لمونځ کې هم ژړا کومه
ځان مې دی هېر تا ته دعا کومه
ځان د دنیا په کار مشغوله کړمه
خو تنهایي څنګه قبوله کړمه؟
ښه تر ناوخته مې ملګري ناست وي
کؤي یو بل سره خبرې ناست وي
خو دوي چې لاړ شي خپل خپل کور ته لاړ شي
زما زړه ستا د مینې زور ته لاړ شي
بس بیا زما او زما د زړه خوښه وي
ژړا سلګۍ شي د غم شپه خوښه وي
ما د روزګار غمونه نه ژړوي
ما د خپل یار غمونه ښه ژړوي
تاته به څنګ زما اواز دررسي
تاته به څنګ د زړګي راز دررسي
مخکې به زه رېډیو ته تلم ما به سندرې ویلې
ما به ترخې خبرې هم خوږې شکرې ویلې

اې ما به تاسره جنګ وکه، ما به ځان خفه که
تا به زما لپاره څنګه هر انسان خفه که
اوس که خفه شمه نو ای رضا کؤي به مې څوک
زه که اوس ژاړمه نو ګرانې خندوي به مې څوک
ته څه خبر یې چې زما څنګ زندګي تېرېږي
د ځنکدن هومره سختي په ما ژوندي تېرېږي
زه نه تقدیر منم او نه راله تدبیر راځي
ماله ژړا راځي، خفګان راځي، شوګیر راځي
چې بې عزته شوې نو خیال دې د عزت کومه
قسم په خدای چې تاسره ډېر محبت کومه
مانه دې قام، ما نه دې کور هېر که
ما نه دې پلار، خور، مور او ورور هېر که
ما محبت د زړه د تله کړی
ما یو ځل نه په څو څو ځله کړی
او ښکې مې ورو په ورو وچېږي ګرانې !
زړه مې بې حده زیات خوږېږي ګرانې !
ته به راځې نه ته به ما نه وینې
ته به زما خفګان ژړا نه وینې
هغسې نه یمه جانانه ! غرق یم
قسم په خدای چې بې له تا نه غرق یم
اوس هم دنیا سره سیالي کومه
څه د دروغو زندګي کومه





زه به تر کومه انتظار کومه
اوس خو ژړا هم ښه په جار کومه
کافر به یم که راله خوب راځي
بې له ما څنګه تاله خوب درځي
تا هم زما په شانتې شپه وخوړه؟
ما د بلا په شانتې شپه وخوړه
ډېره بدرنګه او بې سکونه شپه وه
په ژړا تېره شوه زبونه شپه وه
څه چې محسوس کړمه هغه لیکمه
او خلک وایي اوس شعر ښه لیکمه
سعوده ! تا راته ویلي و شعر بې وسه لیکي
او چې پخپله یې ګویا ژبه شي غوڅه لیکي
هله مې هم منل او اوس درته قسم کومه
څه چې لیکمه نو په ځان اول ماتم کومه
داسې څوک شته چې دا زاري مې تر جانان یوسي
دا فنکاري، دا شاعري مې تر جانان یوسي
زه ستا نه لرې یمه، ډېر لرې یم لرې یمه
نه څه ویلی شم او نه د څه خبرې یمه
خو

قسم دی یاره ته چې نه یې
ناسته ولاړه راله خوند نه راکوینه

پیر، سحر ۴:۱۰ بجې، ۴، ۱۱، ۲۰۱۳ء

# بندونه

ویربږمه د ځان نه د خپل سبوري نه هم تښتم
چې څوک راته په مینه ګوري، لوري نه هم تښتم

د دې دور جانان راسره ګام په ګام بدلېږي
په دې دور کې مینه هم یو شی دی چې خرڅېږي

چې څومره وخت تېرېږي، درد زیاتېږي زور کمېږي
زړېږي نه زما د ځیګر وینه څکي ځوانېږي

زه ټوله ورځ په دې تمه کې تېره کړم چې شپه شي
چې شپه شي نو بس هره مشغولا رانه خفه شي

د تمې نه اسره شي او اسره چې راسره شي
ما وژړوي وژړوي تمه مې خوره شي

خوشال بابا هم بخت ته زاري کړې د مدد ده
چې تللی یار مې یو ځلې په غېږه کې اوده شي





ډېر لرې لرې لاړ شمه وړوکی شم زلمی شم
په خپل خیال کې پخپله ځان رانغاړم لېونی شم

څه داسې چل پکار دی چې زما نه هر څه هېر شي
که نه هېرېږي بیا دې ټول غمونه راچاپېر شي

وېم داسې مې دې مات کړي لکه شرمخ چې انسان خوري
جدید دور ته ګوره او ما غمونه د جانان خوري

یو تمه یو امید او یو وه لاره مې ملګرې
دروغ دي غولي مې یو هنداره مې ملګرې

او ماته ګوره زه په دې دروغو مطمین یم
رنګین نه یم غمګین یمه تریخ شوی یم شېرین یم

بس لږ ساعت له راشي زما ټول غمونه واخلي
راپار مې کړي ژوندی مې کړي او بیا لاسونه واخلي

اوس داسې غوندې شوی یم خندا کې په ژړا شم
په کلي کې چې ورک شمه په ښار کې راپیدا شم

دا ژوند مې انتظار ته غاړه وتی دی روان یم
دا ټول خلک پېریان دي او یو زه پکې انسان یم

چې زه پکې انسان یمه نو زه پکې حېران یم
قدرته ! زه یواځې یم خفه یم پرېشان یم

دا ټول پېریان د پوان او انسانان زما ملګري
دا ټولې فرښتې او پېغمبران زما ملګري

یو خواست لرم یو عرض دی چې یار مې راسره شي
شړ شوی یم د سُر او تال خمار مې راسره شي

وفا، مینه، خلوص، غېرت او ننګ مې ستا پکار دی
ما وژړوه وخندوه جنګ مې ستا پکار دی

چې راشې نو هم ژاړمه چې لاړ شې هم ژړا کړم
لږ صبر نو بس ځان به درنه عمر له جدا کړم

هېرېږې خو مې نه، خو بیا هم تمه د وفا کړم
په دې ټپه به ځانله دا شپه تېره په ژړا کړم
چې
زما به تا ته انتظار وي
که د لحد چینجي مې خاورې کړي هډونه

هفته، ۲:۵۳ بجې، ۱۴، ۱۲، ۲۰۱۳ء، پېښور





## پېښور زلمي سندره

تعلیم دی که هنر دی
جاري مو لا سفر دی
یو فکر یو نظر دی
که لر دی او که بر دی
په دې د الله شکر دی چې خلق ئې مني
پېښور ځلمي پېښور ځلمي
لر او بر ځلمي پېښور ځلمي

بریا د ټول اولس ده
خفګان مو هم شریک دی
د پیغلو او ځلمیو
تاوان مو هم شریک دی
چې کوم پښتون بهر دی
د کوره مسافر دی
ملاتړ مو لکه غر دی
که لر دی او که بر دی
بس پریده چې پښتون نړۍ ته ځان ور وښائي
پېښور ځلمي پېښور ځلمي

ځلمي بیدارول دي
نړۍ ته وربښودل دي
ګټل بائیلل به ګورو
میدان ته راوتل دي
چې قوم مې در په در دی
نو غم ئې را په سر دی
ځلمي زما لښکر دی
که لر دی او که بر دی
د امن پرمختګ او ترقۍ یو ارماني
پیښور ځلمي پیښور ځلمي

هنر ته مو هڅومه
(۱) تعلیم درله درکومه
لرۍ خپله لوبډله
ځلمو تاسو پوهومه
په ځان چې یې باور دی
نو هر یو ځلمې نر دی
چې یو شۍ نو اختر دی
که لر دی او که بر دی
ارمان مه کوۍ اوکړۍ د سیالو سره سیالي

---

۱ درکومه





## چاربېته

### باچا خاني پکار ده

پښتنو داسې خوار و زار ولې یۍ
په سمه لاره شۍ بې لار ولې یۍ
سوچ خو مو شته ستاسو د سوچ ترجماني پکار ده
باچاخاني پکار ده_____ باچاخاني پکار ده

خپله پښتو لکه د مور اوساتۍ
خپله حیا لکه د خور اوساتۍ
د ښو اخلاقو نمونې شۍ وروڼو

ځان له په هر کلي کې ورور اوساتی
د نفرتونو نه څه نه جوړیږي
ددې جنګونو نه څه نه جوړیږي
انسانیت او سړیتوب ذده کړی
ددې ظلمونو نه څه نه جوړیږي
تاسو د یو بله وېزار ولې یی
پاتې د مینې له اظهار ولې یی
پښتنه مینه پاکه مینه افغاني پکار ده
باچاخاني پکار ده_____ باچاخاني پکار ده

علم زمونږ د ژوند بنیاد پکار دی
لږ اتفاق او اتحاد پکار دی
سوات کابل کویټه دې څوک نه بیلوي
د هر ظالم خلاف جهاد پکار دی
د خوئیندو مئیندو نه دعا واخلی
دا تیارې ختمې کړی رڼا واخلی
د ځان نه جوړ کړی خدائي خدمتګار
په خپله خاوره د ژوند ساه واخلی
د ژوند په منډه کې ایسار ولې یی
د غلامانو خدمتګار ولې یی





خداې به مو نه بخښي صحیح مسلماني پکار ده
باچاخاني پکار ده_____ باچاخاني پکار ده

چې ژبه سپکه کړي سپکیږي هغوي
چې ژبه ورکه کړي ورکیږي هغوي
فخرِ افغان بابا پخوا وئیلي
چې نه یو کیږي نو غرقیږي هغوي
مونږ د بابړې شهیدان هېر کړي
مونږه سپېڅلي مشران هېر کړي
مونږ د مېوند ملالۍ نه پېژنو
مونږه افکار د باچاخان هېر کړي
ګناه مو څه ده ګناهګار ولې یی
یو بل وژلو ته تیار ولې یی
ارمان مې دا هره رشته مې انساني پکار ده
باچاخاني پکار ده_____ باچاخاني پکار ده

10-07-2015

# زنځیری غزل

لتا نه په څو وارې شمه ځار لتا قربان
زما خو داسې زړه دی لکه لوې افغانستان

ښکاره جاره څلور ځایه حیران یمه الله
ښکاره جاره څلور ځایه حیران یمه
خپل ځان سره وران یمه
سر باندې روان یمه
چرته د بولان یمه
څه ځای کې پټهان یمه
غېره کې حیران یمه
شکر چې افغان یمه الله
ښکاره جاره څلور ځایه حیران یمه الله
راتلونکو پښتنو ته به ژوند ګران وي که اسان
زما خو داسې زړه دی لکه لوې افغانستان

په تیر عمر دې بیا په ځان مئین کړم لیونۍ
په تیر عمر دې بیا په ځان مئین کړمه
ورک دې له وطن کړمه
کله به دیدن کړمه





سوچ د پرون نن کړمه
مینې دې غمجن کړمه
مات دې ګلبدن کړمه
غم دې لوغړن کړم لیونۍ
په تیر عمر دې بیا په ځان مئین کړم لیونۍ
زړه ډېر څه راته وائي خو ویریږمه په ځان
زما خو داسې زړه دی لکه لوې افغانستان

دا دومره موده چرته وې جانانه پخېر راغلې
دا دومره موده چرته وې جانانه
خفه ومه بې شانه
د ژوند لوبه وه ګرانه
یو څه واوره لمانه
هنرې ذده کړه ګرانه
په علم شه روښانه
زما د زړه ارمانه پخېر راغلې
دا دومره موده چرته وې جانانه پخېر راغلې
دا ټوله دنیا ستا ده که دې وپیژندو ځان
زما خو داسې زړه دی لکه لوې افغانستان

# زه هم فنکار یم

زه هم فنکار یم، زه هم زړه لرمه
د ډېرو یار یم، هیڅوک نه لرمه
زما د ستړي ژوند کیسه داسې ده
پکې د مینې دا حصه داسې ده
لکه دریاب کې اوښکه ورکه نه شي؟
په ماشومتوب کې غریبي ډېره وه
او غریبۍ کې بې وسي ډېره وه
زه هم فنکار یمه د ورانو کوڅو
او قلمکار یمه د ورانو کوڅو
ما مینه نۀ پېژنده
ما مینه و پېژنده
ما مینه کړې ده منکر نه یمه
مخکې نهر وم اوس نهر نه یمه
زه لا د سر د پاسه سر نه یمه

لا خو خپل ځان ته برابر نه یمه
در په در یمه خو بې در نه یمه





مسافر یم خو مسافر نه یمه
غوځ په ځیګر یم خو پرهر نه یمه
ښار یم خو واورئ پېښور نه یمه
زه د یو غم نه لاس په سر نه یمه
زه لا تړون د لر او بر نه یمه
زه د لفظونو جادوګر نه یمه
زه یو فنکار یمه بې وسه فنکار
ما په خپل فن پسې ژړا کړې ده
خلکو په ما پورې خندا کړې ده
زما غربت زما بې وسه ژوندون
زما د هر ارمان سودا کړې ده
ما چرته هم چاته ژړلي نه دي
ما لا د چا نه څه غوښتلي نه دي
ځکه چې دلته خلک فن خوښۍ فنکار نه
(۱)خوښۍ
دغه الفاظ مې د غني بابا دي
او ورپسې دغه الفاظ زما دي
زه هم فنکار یم، زه هم زړه لرمه

---

۱ خوښوي

قسم په خدای دی که هیڅ څه لرمه
ذهن مې هسې په چورلک غوندې دی
خو نن مې هسې زړه راډک غوندې دی

ته به وی دی د غرونو کلک غوندې دی
خو نن مې هسې زړه راډک غوندې دی
راشه په ما باندې نن څه تېرېږي؟
څه چې تېرېږي، خبر دی ښه تېرېږي
ایا زما د مینې دا انجام وو؟
ایا زما د وینې دا انجام وو؟
زه یو فنکار یم خو د خوارې زمکې
د درد بدلې او خونکارې زمکې
دلته فنکار پورې خندا کېږي
او قلمکار کار پورې خندا کېږي
دلته هم دا کېږي هم دا کېږي
اخر په وجه چې د چا کېږي
دلته فنکار پورې خندا کېږي
زما خپل پلار ما سره مینه نه کړي
ما ته یوه خبره سپینه نه کړي
بس دا به وایمه مشران دې خبر دی

خو چې دا خپل درنه په بله واوړي





سړی د هر څه نه پخپله واوړي
خبرې ډېرې سر یې یو دا دی

چې زه پخپله باندې ځان ورک کړم
او یا په ځان کې دا جهان ورک کړم
زما د غږ مئینان ټول خلک دي
خو دومره ده چې دا د تول خلک دي
زما هنر ته دوي ګډا کړې ده
زما هنر ته دوي ژړا کړې ده
تل یې په ما پورې خندا کړې ده
زه به نور هیڅ نه وېم خو دا به وایمه
رښتیا مې ویلي دي، رښتیا به وایمه
ښه په ژړا ژړا ژړا به وایمه
یاري خو تا کړه، ما خو نه کړه
اوس یې چې لنډه پرېکوې ژړا راځینه
زما په چا هم یقین پاتې نه دی
دلته ټول تور دي، څوک سپین پاتې نه دی
چې ما ازار کړي نو خوشحال به ګرځي
په دې هم شکر دی چې سیال به ګرځي

زه د وطن خلکو له مینه(١)ورکوم
که ضرورت شو خپله وینه(٢)ورکوم
افسوس په دې دی چې چا خپل نه کړمه
داسې یو سوال یم چې چا حل نه کړمه
هر چا ارمان کړم، چا اتل نه کړمه
زه له دې غمه اوس لیکل نه کړمه
خو په تلو تلو کې درته دومره وایمه
څه چې کولی شمه هومره وایمه
ستاسو د ښار نه د خپل کلي پورې
د خپل پښتون وجود د ځلي پورې
دغه یوه ټپه زما په خوله ده
ځانله به داسې تعویذ وکړم
د یار کوڅه به ځان ته توره بلا
کړمه

۱۱، ۰۱، ۲۰۱۲ء

١ ورکوم
٢ ورکوم





اوس ډېر ټیک شوی یمه
اوس مې په هیچا زړګی نه خوږېږي
اوس د هیچا نه مرور نه یمه
اوس ډېر ټیک شوی یمه
مخکې به ما ژړل خفه به ومه
په نه خبره چې غصه به ومه
ماته به پلار یادېدو، مور یادېده
بس لوی واړه به مې د کور یادېده
ماته به خوېندو ویل خانه! ته په ښار کې څه کړې؟
ما به خاندل، زه به مُسکی شوم چې پېسې ګټمه
ستاسو ودونو له په غم کې، لاس او پښې وهمه
اوس خفه کېږم ځکه نه چې هر سړی په ځان دی
که زه په ځان شومه نو دا خو د اولس تاوان دی
لږ لږ ټیک شوی وم خو پته نشته
چا ظالمانو راله بیا د مینې لاس راکه؟
کله به یې خپل کړمه زه، کله به یې ښکل کړمه زه
کله به یې کړم باچا او کله به یې غل کړمه زه
بلها موده کېږي چې دغه پټ پټونی جوړ دی
خو زه ډېر ټیک شوی یمه
مانه اکثر خلک تپوس کړي چې په چا مئین یې؟

زه ورته وخاندم او زړه کې وایم چې یو خو نه دی
بلها ځوانۍ تېرې شوې
بلها هستۍ تېرې شوې
زما د ژوند ورځې شپې
څه په نېستۍ، څه په تادۍ تېرې شوې
نن دا دی بل کال د ژوند تېر شو، نوی کال راغی
هم ژړا راغله او هم په زړه کې مې دا خیال راغی
ستا نه مې سوال کوو چې ستا د لوري سوال راغی
ایا ته اوس هم ځانله زړه خورې ویښې شپې تېروې؟
بس دغه سوال مې ژړېئ([1] )
ستا هر یو خیال مې ژړېئ([2] )
او کال په کال مې ژړېئ([3] )
یو د ابۍ دادا نه لرې یمه
بل خوا یاران رانه پردي پردي دي
خوښندې او وروڼه ځان ځاني خوښوي
د وطن هر غریب خاني خوښوي
نو !
په داسې حال کې به زه څنګه خوشحالي کومه
دا خو لا شکر دی چې ژوند سره سیالي کومه
په ما مئینه ! په ما ګرانه ! یه د ښار جانانه !

[1] ژړوي
[2] ژړوي
[3] ژړوي





کلي ته نه ځې خو چې ځې نو ماته هیڅ نه وایې
یو کار دې سم نه شي
غم به دې کم نه شي
کم به مې نم نه شي
څه چې لیکم نه شي
خو لنډه دا چې ډېر ټیک شوی یمه
دا دی ورځ تېره شوه، شپه تېره شوله
آ پخوانۍ سخته مې هېره شوله
بې وفا ته نه، بې پرواه دې کړمه
چې په خندا شوم په ژړا دې کړمه
زما تیاره کوټه زما خوښه ده
ستا چې څه خوښ دي هغه ستا خوښه ده
څوک رانه مړه شو چا زه پرېښودمه
چا لکه ګل کتاب کې کېښودمه
چا راته وخاندل، چا ما پورې خندا وکړله
چې کله ټیک شومه نو دغه ټپه ما وکړله
هیڅوک د چا د غمه نه مري
شېرینه یاره ! چا دروغ ویلي دینه
۲۱، ۰۴، ۲۰۱۲ء

# باور

زما باور ختم شو
زه به په هیچا اوس باور نه کؤم
ما سره ستورو هم دوکې کړې دي
ما له سپوږمۍ هم پېغورونه راکړل
ماله هر چا داسې اورونه راکړل
ماله خپل ورور او خور دردونه راکړل
ماله سندرو پېغورونه راکړل
ماله شعرونو عذابونه راکړل
زما ځواب ماله سوالونه راکړل
ځکه په جار نارې وهمه چې بس
زما باور ختم شو
زما باور ختم شو
په چا باور نه لرم
لا خپل سحر نه لرم
ګرځم خو سر نه لرم
خپل مازیګر نه لرم
زما باور ختم شو
شور لرم شر لرمه





بچي نهر لرمه
نظام کافر لرمه
د پښتون روڼ سحر ته
ژور نظر لرمه
خپل حق به غواړم خو اواز به نه کوم
ځکه اواز په خلکو بدي لګي
اتڼ به کومه خو په ساز به نه کوم
ځکه چې ساز په خلکو بدي لګي
نو زه اوس پټ پټ وایم
زما باور ختم شو
زما باور ختم شو

ما دلته لوی لوی شاعران ولیدل
ما دلته هر څه په ایمان ولیدل
ما د دې خلکو سره ناستې وکړې
ما د پښتو سوداګران ولیدل
ما د ادب سره په مینه مینه
دوکه بازان او دلالان ولیدل
اوس مې د دې کوڅو نه زړه تور شوی
اوس مې د دې کیسو نه زړه تور شوی

ځکه د ځان سره وایم
زما باور ختم شو
زما باور ختم شو

په ما پښتون هم باچاهي وکړله
مونږ پکې څومره تباهي وکړله
مونږ په هر حال کې شاعري وکړله
مونږه په غلا غلا موسیقي وکړله
لکه یتیم مو زندګي وکړله
مونږه نه غم او نه ښادي وکړله
نو زه د ډېره سوخته
غلي غلي
پټ پټ
په زړه کې وایم چې
زما باور ختم شو
زما باور ختم شو

۲۰، ۵، ۲۰۱۴ء، صدر، پېښور





# نیمګړی احساس

هغه ټول بتان ماتومه([1])
ځانله بل څه کار جوړومه([2])

ځان په داسې اور سوزومه
چې ځان ځان ته لوګی کومه

حېثیت ځانله ختمومه
نور د ورکې ژوند خوښومه

اوښکې پرېده چې څڅومه
د ځان مړی به ښخومه

یو جنت به راجوړومه
دا شداد ورته پسخومه

مرګ او ژوند کې مرګ خوښومه
یوه نوې لوبه کومه

[1] ماتوم
[2] ماتوم

خوب د هر چا نه تښتومه
تر سحره ساز غږومه

چرته خاورې به چڼومه
مشران به قلارومه

ظالمان به حلالومه
محلونه یې رانړومه

دا قبرونه یې ماتومه
او روحونه یې لړزومه

سم په چغو یې پاڅومه
دغه یو تپوس ترې کومه

چې مئین دې په څو مړ که؟
او وطن دې په څو خرڅ که؟

خپل اواز ته یې ګډومه
مقبرو نه یې لرې کومه

چرته شاړو کې یې غورځومه
په ولاړه یې ښخومه





دا وطن به مانځي کومه
دا دروغ به رښتیا کومه

رڼا تاته تیاره کومه
تیاره ځان ته رڼا کومه

د ژوند لوبه تقسیمومه
مار نولي سره جنګومه

ځان د مشر نه بیلومه
ځان نه کشر ازارومه

په نهره روژه کومه
خپله کېده راټولومه

مینې زړه درنه صبرومه
هره سخته به تېرومه

بس ارمانه! تا ښکلومه
دغه ټول بتان ماتومه

۳، ۷، ۲۰۱۴ء، پنځمه روژه، د جمعرات سحر، صدر، پېښور

# وخت

تا ماله مینه راکړه
ما تاله وخت درکړو
ستا دې خدای قدر وکړي
ما دې خدای ونه بخښي
زما او ستا څه پرده ده؟
زما او ستا څه کیسه ده؟
راځه یوې شیبې له
چې لږ مشغول شو یاره !
چې څومره وخت مو وشو ؟
راځه چې وخت او مینه وتلو لږ
چې تا ډېر څه راکړي
که ما ډېر څه بایېللي
خو !
د حساب نه مخکې
د دغې باب نه مخکې
ښه او خراب نه مخکې
ستا د جواب نه مخکې
عرض کوم ګلابه !





ځان پوهوم ګلابه !
څه خو به ته هم وې خو
بس خفه کېږې به نه
صفا صفا به وایم
والله رښتیا به وایم
او حقیقت دا دی چې
رښتیا ډېر زیات تراخه وي
اول به تاله راشم
نو بیا به ماله راشم
تا سوال د مینې کوو
ما درله وخت درکړو
تا خیال د مینې کوو
ما درله وخت درکړو
بلها کلونه تېر شو
ښه بد وختونه تېر شو
لوی فسادونه تېر شو
ژوند وو جنګونه تېر شو
د سوات په جنګ کې هم مونږ دواړه خفه
د ذات په جنګ کې هم مونږ دواړه خفه
تاله بدلون پکار دی

ماله سکون پکار دی
ستا اوس هر خوي پېرنګی
ماله پښتون پکار دی
مینه او وخت دواړه روان دي خبر دی
ستا واړه بد في الحال منلي ما په ځان دي خبر دی
اوس ته هم مینه کوې، هم تاسره وخت نشته
ماسره ستا لپاره، وخت هم شته او مینه کوم
اوس ستا کارونه ډېر دي
اې ستا سوچونه ډېر دي
دلته به دا متل پکار راولم
چې ټوپۍ وي نو بس سرونه ډېر دي
اول به ما تاته وې ژوند جوړ که ما مه بدلوه
او اوس ته ماته وایې ژوند کوه په ما څه کوې؟
بس دې خبرې له راغلی یمه
وخت مې برباد شو ځکه غلی یمه
ستا په خبرو کې جنت خو نه وو
بیا دې هم زه په زړه داغلی یمه
زه تا رټلی تا وژلی یمه
زه تا په میاشتو ژړولی یمه
زه تا په مینه خندولی یمه





زه تا په خپل وخت ښه زورلی یمه
زه تا منلی، قدرولی یمه
زه تا د هر څه اړولی یمه
خو ما هم تاسره ډېر څه لیدلي
ما تاسره د ژوند خواږه لیدلي
خدای خبر تا نن سبا څه لیدلي؟
زه د ژوند لویه تجربه لرمه
زه ستا د مینې قیمت نه لرمه
ماسره هیڅ نه وو بس وخت مې لرو
افسوس په دې چې تاته نه ښکارېدو
بس تاته ځان هر څه نه ښه ښکارېدو
او زما وخت درته وخت نه ښکارېدو؟
نن درته ځکه زه د ډېره سوخته
په خندا کېږم او په چغو وایم
تا مینه وبایېله ما وخت خراب که
په دې ټپه مې درله خلاص حساب که
چې تا راکړي ما خوړلي
د یارانې په کور کې نه وي حسابونه
د اتوار سحر، ۷:۰۴ بجې، ۲، ۳، ۲۰۱۴ء

# نښې

اوس مې د ځانه نفرت شوی غونډې
زه لا په ځان باندې مئین کله وم؟

ستا ټولې نښې به سنبال ساتمه
لکه چې ځنګه مې سنبال ساتلې
اوس هم په جېب کې ستا دسمال ساتمه
ما دې عکسونه هم په خیال ساتلې

ما د دردونو خزانې جمع کړې
ما ډېرې ماتې آئینې جمع کړې
ستا د بېلتون سره بې خانه یمه
ما بلها اوښکې دردانې جمع کړې

چې څو زغملی شمه، پړ یم درته
هیڅ به هم نه وایمه، مړ یم درته
سوات ته راځه، هلته دې کور هم شته دی
د ملاکنډ غونډې سر لوړ یم درته

آزما نښې دې ساتلې؟ شته دی؟
ما چې لیکونه درلېږلي شته دی؟





آ چې د وصل هجر ډکه شپه کې
کوم تصویرونه دې ویستلي شته دی؟

که وي نو وګڼه چې زه هم یمه
درنه په زړه کې ښه خفه هم یمه
ستا امتحان ماته د سر خطره وه
تا له راغلی زه په شپه هم یمه

دې یو خفګان ته مې خفګان ووایه
ماته په ډکه خوله جانان ووایه
اوس مې د ځانه نفرت شوی غونډې
ستا دې قسم وي ماته خان ووایه

زه لا په ځان باندې مئین کله وم؟
ماته په ځار او په قربان ووایه
نن ډېر خفه یمه او ډېر یو اځې
بس که پوره مې که ارمان ووایه

په انتظار او هنداره دې قسم
چې ماته بیا هغسې خان ووایه

منګل، ۱۴، ۱۰، ۲۰۱۴ء، پېښور صدر

# ژوند

ژوند یو درې رکعاته لمونځ دی
ژوند یو درې رکعاته لمونځ دی
درې رکعاته شپږ سجدې دي
ګوره دوه پکې قاعدې دي
درې رکوع، درې ځل قیام
تېر کړه ژوند په احترام
ژوندون دی ځان پېژندنه
تښته مهٔ له دې لمانځه نه
لمونځ ته ځان تیارول دي
او قبلې ته مخ کول دي
ژوندون ځان هم پېژندل دي
لمونځ ثنا صفت کول دي
ژوند یو درې رکعاته لمونځ دی
ژوند یو درې رکعاته لمونځ دی
درې رکعاته یې نمونه ده
ژوند خو پټه خزانه ده





وتر، نفل او سنت
ورسره انسانیت
درې رکعاته درې دورونه
ژوند او مرګ او حسابونه
نن، سبا او تېر پرون
درې رکعاته دی ژوندون
ښکته کېږه، پورته کېږه
د الله سره غږېږه
د خپل ځان نه مه ویرېږه
ورځې درې دي سم چلېږه
که صحیح صحیح دې ووې
مطمین به دې زړګی وي
که دې هسې ترې ځان خلاص کړو
نو ناراضه به خدای وي
که الله رضا کوې
نو خپل نفس به قېدوې
ځکه، ژوند دی درې رکعاته
ترې خبر یم وایم تاته
لوی الله ته به سجده کړې
له هیڅ چا به تمه نه کړې

چې الله درنه خفه وي
ته به داسې ژوندون څه کړې؟
ورځ رکعات دی، رکعات ژوند دی
په اول رکعات کې خوند دی
ستا دوېم رکعات ځواني ده
او دا لمونځ دې پوره ژوند دی
خلک وایي ژوند کې خوند دی
په خوند څه؟ درې ورځې ژوند دی
ژوند رکوع ده، ژوند قیام
په سجده کې دی ارام
په قاعده کې یې ځان ته یاد که
سم په زړه کې یې ځان ته یاد که
لمونځ چې وشي ژوند تمام وي
اخري عمل سلام وي
ورځ شروع شي له سحره
ختمېده یې په ماښام وي
دغه لمونځ دې پاڅوي به
نېک عمل دې خلاصوي به
خلک لاړل یې یوائې
خپل عمل ته به موتاز یې





اوس خبر شوې چې ژوند څه دی؟
د دې خوشې کور خوند څه دی
ژوندون وو هم درې رکعاته
دا تېره وکړه چاته؟
ځان ته یې وکړه که تاته
خبر دی وه به یې کړم دنیا ته
چې
د دنیا درې ورځې ژوندون دی
پرون راغلي، نن دلې، سبا به ځونه

د جمعې ورځ، سحر ۷:۱۰ بجې، ۱۰، ۴، ۲۰۱۵م، پېښور صدر

## ټپیزې

لاچي لونګ لالی چنار کړې
مسافرونه یې وزګار کړې
وطن کې امن او بهار کړې
خالقه ! بیا د دنیا وار کړې
چې ورونه خوبندې سره وکړي دیدنونه

بلا خبرې مې په زړه دي
یم مسافر اختر کې څه دي
یادونه ستا مې مېلمانه دي
بنګړي دې اوس هم را سره دي
ماتې ټوټې یې ښکلوم تا یادومه

یا چې ته پوهه په پښتو وې
یا دا زما زړه د کتو وې
چې لېونی دې د کوځو وې
که زړه ته لار د کوزېدو وې
ما به د یار په زړه کې کور جوړ کړی وونه





ژمی دې ښار اوړی دې سوات شه
مینه دې ژوند حسن دې زیات شه
بې لوظه مړ مې که جلات شه
ستا د راتلو لوظ میرات شه
زه دې د ګوتو په شمارلو ستړی کړمه

هم مې ښایست هم مې ځواني ده
نصیب مې خوار دی ځان ځاني ده
د جونو برخه تاواني ده
خدایه ! دا څه مسلماني ده
زما حق نه مني عمرې له به درځینه

شال مې د کونډې په مخ ولید
کال مې د کونډې په مخ ولید
سوال مې د کونډې په مخ ولید
خال مې د کونډې په مخ ولید
پېغلې له ښایي چې پنځه کېدي خالونه

کله اوتر د خوبه پاڅم
کله په لمر د خوبه پاڅم
وکړه باور د خوبه پاڅم
زه چې سحر د خوبه پاڅم
د کلیمې سره دې سمه یادومه

نن به هم تېر شي سبا شته دی
لا په وجود کې مې ساه شته دی
د خور او مور چې دعا شته دی
زما د رزق الله شته دی
ګټلی مال به په جانان تالاکومه

تا به د چا په سر کوله
خندا یې زما په سر کوله
خلکو ګناه په سر کوله
پښتو مې ستا په سر کوله
ته بې پښتو شوې اوس پښتو څه له کومه





په نه خبره یې خفګان جوړ که
ماته یې د ځانه اسمان جوړ که
داسې یې د عمر تاوان جوړ که
مسافرۍ ته دې ځان جوړ که
چاړه راواخله ما حلاله که مئینه

کومه نه دښمنۍ تاؤ دی
غم کې دې یم په ښادۍ تاؤ دی
شوم لېونی لېونۍ تاؤ دی
دا واړه ستا د یارۍ تاؤ دی
که په مابڼ کې واورې خورم له تندې مرمه

سمسور وربل دې رانه هېر که
تپه غزل دې رانه هېر که
ښکلی کابل دې رانه هېر که
جانانه چل دې رانه هېر که
پخوانی وخت چې مې رایاد شي وژاړمه

یار په یارانو خفه کېږي
په انسانانو خفه کېږي
پلار په بچیانو خفه کېږي
ځوان په ځوانانو خفه کېږي
د جینکو چې منګی مات شي وژاړینه

خدایه چې ټول عمر سکون وي
یا خو چې عمر له بېلتون وي
دا سرخوړلی زړه پښتون وي
چې اول مرګ وي بیا ژوندون وي
چې رامعلوم وي د پردو خپلو نیتونه

خلک به ډېر درنه چاپېر وي
زاړه وختونه به دې هېر وي
زړه به دې بل بل شانتې ګېر وي
ارمان به وکړې وخت به تېر وي
خلک به ډېر وي څوک به لاس نه درکوینه





چې مسافر شو روانېږي
رومال ته یې ګورم رایادېږي
زما پرې زړه سم راټولېږي
ډېره ګیله مې ورنه کېږي
جانان زما دی شپه د نورو چم ته وړینه

ستا په ښکالو مې زړه شکي شو
لاس مې په خپله په تندي شو
صبر تمام مې د زړګي شو
مخ مې د غمه تېرسري شو
د جانان غم مې د څرمنې ووتنه

د ګلاب ګله جرګه وکه
راشه په خپله جرګه وکه
بس مکمله جرګه وکه
په پلار مې بله جرګه وکه
که در یې نه کړم په وړومبي چربانګ به ځونه

د ژوند محل مې رانړېږي
باران د غم پرې راورېږي
زړه مې بې واره شان درزېږي
یار بل وطن ته روانېږي
په غرغره ننکۍ مې چړ د اوښکو ځینه

که ننګرهار دی که خیبر دی
ښایست د دواړو برابر دی
د مسافرو خدای خبر دی
زما پنځه ورونه څادر دی
که زه سرتوره پکې ځم پټه به یمه

خیال مې پنځم اسمان ته لاړو
د مینې بل جهان ته لاړو
زړه لېوني ارمان ته لاړو
فکر مې تول جانان ته لاړو
په رکعاتونو کې حېرانه ودرېدمه





خلکو به ویل چې مینه مه کړه
بیا مې هم خوښه د خپل زړه کړه
هسې مې سپین درته ویښته کړه
ستا یاراني خواږه رانه کړه
د بل د پاره دې هوښیار د عمر کړمه

چې ستا کوڅې ته مخامخ شم
لکه کعبې ته مخامخ شم
بس زمانې ته مخامخ شم
چې ائینې ته مخامخ شم
په ځان خفه شمه ښېرې درته کومه

هر خواته ویره او وحشت دی
څه ناپوهي او څه غربت دی
د غریبانو خوار قسمت دی
بچیه د علم ضرورت دی
نن دې ښوونځي کې خامخا داخلومه

کلی مې خوښ دی کلی ښه دی
ملګرو کلي کې مې زړه دی
زما جانان زما هر څه دی
الله عالم دی ظالم نه دی
د وړوکوالي بد به نه لیکي مئینه

ستا محلونه او خاني شوه
زما په برخه غریبي شوه
بیله زمونږ کلي والي شوه
څنګه قلاره قلاري شوه
چې لیونی جانان مې ورک د ملکه شونه

امن به راشي ورک به غم شي
وطن به ټول شړشم شړشم شي
د مسافرو غم به کم شي
که سړی ډېر په زړه محکم شي
چې د جانان د غېږې ځي ژړا کوینه





اسمان ته ګورمه پړقېږي
ستوري رڼا کوي ځلېږي
په ما دا شپه نه سبا کېږي
وس مې په هیچا نه رسېږي
ظلم په خپل زړګي کوم بدرنګه شومه

چې چا پسې د مور دعا شي
که وي ګدا هغه باچا شي
وار يې په يو دوه کې خطا شي
د جانان غم چې په چا راشي
که د لقمان په کور کې پروت وي مړ به شینه

جنګ دی پردی باور پرې وکه
دلته څه شتی باور پرې وکه
ځار په يو ځای باور پرې وکه
قسم په خدای باور پرې وکه
که ستا په شان مینه مې بل چا سره وینه

په لوړو غرو باران ورېږي
داسې ورو ورو باران ورېږي
دا به تر څو باران ورېږي
که په شپېو باران ورېږي
زما په خپل جانان باوردی را به شینه

لاس په دعا درته ابۍ کړه
په تندي ښکل وړه لورکۍ کړه
مه چاته سوال او مه زارۍ کړه
مسافري په بې غمۍ کړه
زه پښتنه یم په نامه دې ناسته یمه

خواران په لوږو خفه کېږي
هر شان په لوږو خفه کېږي
قربان په لوږو خفه کېږي
پلاران په لوږو خفه کېږي
بې وسه لوږه یې دعا کې یادوینه





ښایسته کابل وطن ته راشه
څه په چل ول وطن ته راشه
بس مکمل وطن ته راشه
جانانه ! خپل وطن ته راشه
دلته دا بندې دروازې مې ژړوینه

خوشو مېرو خوړلیه یاره !
اې مزدورو خوړلیه یاره !
ځار شوګېرو خوړلیه یاره !
مسافرو خوړلیه یاره !
ستا د خولو نه د عنبرو بوي راځینه

اول به ستا کډې په سروې
بیا به زما کډې په سروې
اوس د هر چا کډې په سروې
زما پخوا کډې په سروې
سږنی کال مې ستا دیدن ته تېرونه

د خدای ساده د کوره ورکه
یمه خفه د کوره ورکه
بس که راځه د کوره ورکه
په سره غرمه د کوره ورکه
کور ته راځه ابی دې ما بدناموینه

شولې بې ځایه مانه پاتې
خلکو ته ښایه مانه پاتې
کاروان دې بیایه ما نه پاتې
ته سبق وایه مانه پاتې
ته به افسر شې زه به خاورې ایرې شمه

په ورځ او شپه دردونه تېر کړم
بل په کاله دردونه تېر کړم
ستا نه به ښه دردونه تېر کړم
پټ به په زړه دردونه تېر کړم
بې درده تا ته به ونه وایم حالونه





داسې وفا مې پکار نه ده
داسې حیا مې پکار نه ده
او دا دنیا مې پکار نه ده
د کور خندا مې پکار نه ده
منګی به واخلم په ګودر به وژاړمه

اوس مې په زړه کې ارمان نشته
خدایګو هیڅ خوند د جهان نشته
رباب منګی او یاران نشته
زما نصیب کې جانان نشته
که د تعویذ په ځای مُلا په غاړه کړمه

چې ته راځې سندرې خوند کړي
خوږې خوږې سندرې خوند کړي
سوې ټپې سندرې خوند کړي
د نیمې شپې سندرې خوند کړي
څوک به مئین وي چا به یار بایېللی وینه

مئین په مینه او وفا یې
ځکه خو خوښ ته د هر چا یې
چې لر او بر پښتانه ستایې
زما خو ژوند زما خو سا یې
چې ستا به څه یمه کرل ربل کومه

کاش که وطن کې مو شر نه وې
نو زه به هم مسافر نه وې
داسې پیکه به اختر نه وې
که مې دادا جوارګر نه وې
تا به په ما پسې وې کړي ارمانونه

ما به وې تا تنور لمبه که
تا به وې تا تنور لمبه که
نن ګوری چا تنور لمبه که
لېونۍ بیا تنور لمبه که
د ډوډۍ تپ یې څوارلسم کلي ته ځینه





دنګ چنارونه په ژړا شو
بس ګودرونه په ژړا شو
درد نه لفظونه په ژړا شو
په حال مې غرونه په ژړا شو
ښه یې دا ده چې سیندونه ترې راځینه

یا مې دادا زړه ته کتلی
یا مې بابا زړه ته کتلی
یا مې دنیا زړه ته کتلی
که تا زما زړه ته کتلی
زه به دا سوې شونډې ولې ګرځېدمه

د سره تېر په ما مئین دي
ځان ترې وي هېر په ما مئین دي
غم کې دي ګېر په ما مئین دي
ستا په شان ډېر په ما مئین دي
زړګی مې یو دی زه به یې چا له ورکومه

نادانه ! وه مې غولولې
ارمانه ! وه مې غولولې
یه خانه ! وه مې غولولې
جانانه ! وه مې غولولې
ته مې مئین کړې زه قلاره کېناستمه

زما تصویر ټوټې ټوټې که
هغه ټوټې په اور پسې که
سحر ماښام راته ښېرې که
واپس مې نښې نښانې که
په جار نعرې که چې یارې دې نه کومه

ګل او ګلزار پکې ښکارېږي
درد او پرهار پکې ښکارېږي
بېلتون هوښیار پکې ښکارېږي
تصویر د یار پکې ښکارېږي
د تصور شیشه چې زړه ته ونیسمه





که په رڼا که په تیاره ځي
زما د سترګو نه اوبه ځي
چې زه ژوندی یم دی په څه ځي
جانان دې بل وطن ته نه ځي
دا خپل پېزوان د مارګلې په کنډو ږدمه

چې چرته ځې به درسره یم
ذرې ذرې به درسره یم
زلفې خورې به درسره یم
تر مارګلې به درسره یم
نور دې په اخوا الله مل شه مسافره

راشه حساب راسره وکه
که پړه دې کړم نو بیا مې مړه که
ربه ! قبوله دا ښېره که
خدای دې د زړه په رنځ اخته که
چې تر لندنه دې ونه شي علاجونه

ستا د یارۍ مېرمنه واخلم
د غریبۍ مېرمنه واخلم
د زندګۍ مېرمنه واخلم
د ناچارۍ مېرمنه واخلم
په مُلا بانګ پردي ورونه ټکومه

ساه مې اوځي دیدن مې وکه
راوړه بنګړي دیدن مې وکه
بېلتون راځي دیدن مې وکه
بس اخري دیدن مې وکه
زمونږه کډې سبا بل وطن ته ځینه

زاري قبوله به مو خدای کړي
وطن به بیا سپرلی کړي
بېلتون لمبه غم به لوګی کړي
خدای به مو بیا سره یو ځای کړي
د سمال راواخله اوښکې پاکې کړه مئینه





چرته پېدا شو چرته ځوان شو
مئین په لوی افغانستان شو
د هندوستانه راروان شو
په سپینه ږیره مسلمان شو
هندو چې ولوستل د حورو کتابونه

کړه دې سرتوره خور ټوپکه
زړه شو سوری د مور ټوپکه
ورور نه دې بیل کړو ورور ټوپکه
په اور پسې شي تور ټوپکه
زما د سرو شونډو لالی خاورو له ځینه

د ناپوهۍ جنګونه ډېر شو
هر ځای کې مرو ظلمونه ډېر شو
په پښتنو غمونه ډېر شو
دا بې ګناه مرګونه ډېر شو
جانان ته وایئ چې وختي کور ته راځینه

پښتون ته خپل تاریخ وریاد که
داوران وطن ورله اباد که
بس پېښور راباندې ښاد که
خدایه ! کابل داسې اباد که
چې هر پښتون ورته پرانستې تښې ځینه

خدای گو هیچا درله در نه کړم
چې خپل دادا درله در نه کړم
ژړا دعا درله در نه کړم
چې پیر بابا درله در نه کړم
زړگی دې صبر کړه ما خدای نه درکوینه

سپرلي او گل وطن ته راشه
ښه وربل وطن ته راشه
ته خو یو ځل وطن ته راشه
جانانه ! خپل وطن ته راشه
بچي دې هره شپه بابا بابا کوینه





د زړه د زوره درته کېنم
که د پېغوره درته کېنم
نور خو مره گوره درته کېنم
یو کال به نوره درته کېنم
پیر خو مې نه یې چې جنډې به دې ساتمه

جانانه ! مه راپسې کېږه
ارمانه ! مه راپسې کېږه
یه خانه ! مه راپسې کېږه
قرآنه ! مه راپسې کېږه
چې زورور دې راکوي زه به دې خورمه



نادانه ! ؤ مې غولولې
ارمانه ! ؤ مې غولولې
يه‌خانه ! ؤ مې غولولې
جانانه ! ؤ مې غولولې
ته‌مې مئين کړې زه قلاره کېناستمه

©MUNTAZIRKHAN DESIGNS @Muntazirphotography Muntazirphotography

ISBN 978-1-970049-99-2
90000
9 781970 049992

شهباز خپرندويه ټولنه
برېښنا ليک : shahbazpublications@gmail.com
اړيکشمېرې: 0797920008 - 0776920008 - 0787868816
پته: بې بې حوا عالي لېسې ترخنګ، حاجي عظيم مارکېټ، حاجي زمان کوڅه

ثاقب پبلشرز قصہ خوانی
رحمت مارکیټ، عقب قصه خوانۍ، پېښور
0346-9745863
091-2550520